د قبر په لوحه يي ليکلي وه:

پرون مونږ ستاسو په څېر وو
او سبا به تاسو زمونږ په څېر شئ



# د فیسبوک نړۍ

Ketabton.com

لیکوال: عبدالحمید جلیلی

راټولونکی: اجمل هېوادمل

ketabton.com - The Digital Library



ketabton.com - The Digital Library

♧♧♧♧♧

د حضـــرت عمر بن عبدالعزیز رحمـه‌الله د خلافت پر مهال جراح بن عبدالله حکمي د خراســان والي و. هغه حضــرت عمر بن عبدالعزیز رحمه‌الله ته لیک واســتـاوه او د خراســـان د خلـکو لـه حـالتـه یې شـــکـایـت وکړ. هـــغـــه پـــه خـــپـــل لـــیـــک کـــې ولـــیـــکـــل: د خراسان د خلکو حالت خراب شوی دی، او زما په اند له تورې او دورو پرته بل څه هغوی نه شي سمولای. که امیرالمؤمنین مناسب وګڼي، نو ما ته د دې

اجازه راکړي.

حضــرت عمر بن عبدالعزیز رحمه‌الله چې د والي لیک ولوســت، په ځواب کې ورته ولیکل:

ســتا لیک راته راورســېد، په هغه کې دې لیکلي چې د خراســان د خلکو حالت خراب شــوی او له تورې او دورو پرته بل څه یې نه شــي ســمولای. ته درواغ وایي. بلکې هغوی عدالت او حق سـمولای شـي. نو په هغوی کې عدالت او حق خپور کړه. والسلام.

إنَّ أهلَ خُراسـانَ قومٌ سـاءتْ رَعِيَّتُهُم، وإنَّه لا يُصـلِحُهُم إلا السـيفُ والسـوطُ، فإن رأى أمـــيـــرُ الـــمـــؤمـــنـــيـــنَ أن يـــأذنَ لـــي فـــي ذلـــك. فـــكـــتـــب إلـــيـــه عـــمـــر بـــن عـــبـــد الـــعـــزيـــز رحـــمـــه الله: أما بعدُ، فقد بلغني كتابُك تذكرُ أنَّ أهلَ خُراســـانَ قد ســـاءتْ رَعِيَّتُهُم، وأنَّه لا يُصـلِحُهُم إلا السـيفُ والسـوطُ، فقد كذبتَ، بل يُصـلِحُهُم العدلُ والحقُّ، فابسطْ ذلك فيهم، والسلام.

حواله

ابن الجوزي، سـيرة عمر بن عبد العزيز؛ الطبري، تاريخ الأمم والملوك، د عمر بن عبدالعزیز رحمه‌الله د خلافت د پېښو په ضمن کې.

ketabton.com - The Digital Library

♧♧♧♧

د تابعینو له ډلې یوه ځوان حضـرت عمر بن الخطاب رضـي الله عنه ته وویل: تاسو چې بتانو ته سجده کوله؟! ایا تاسې عقل نه درلود؟

حضـــرت عـــمـــر رضـــي الله عـــنـــه وفـــرمـــايـــل: ای زمـا وراره! عـقـل خـو راســـره و، خـو هـدايـت راســـره نـه و. اوسمهال شخصیت پرستي، مسلک پرستي ،ډله پرستي او نژاد پرستي د بت پرســـتي ځـاي نیولي ډیرو ســـره عقل شـــتـه خو لـه هـدایتـه محروم دي د روســـانو د وتلو او ماتې ژوندی شـــاهد یم. کله چې مجاهدین کابل او نورو ښـارونو ته ننوتل، خلکو په بېسـاري ډول هرکلی او اسـتقبال وکړ؛ خو یوازې یوه میاشـت وروسـته، چې د کابل په هره کوڅه کې جګړې پیل شـوې، هماغو د کابل خلکو د پخواني نظام ارمان کاوه او بل لورې ته مخلص مجاهدین ټول په کورنو کیناستل..

دا تجربه موږ ته یو ډېر مهم حقیقت رابښـيي: خلک یوازې د نظام شـعارونه نه غواړي؛ خلک د ښـه ژوند، عدالت، امنیت او روښـانه راتلونکي نظام غواړي. خلک سـوله غواړي؛ پر دسـترخوان ډوډۍ غواړي؛ کار غواړي؛ خپل روښـانه سرنوشت غواړي؛ انصـاف غواړي؛ مینه او محبت غواړي. خلک داسې قانون او نظـام غواړي چې چارواکي پکې حســـابورکوونکي وي. خلـک غواړي د خپلو امکاناتو او وســـايلو په مټ د خپل ژوند په اړه خپل اختیار ولري. خلک غواړي په نظام کې ځان ووینې؛ داســـې نظام غواړي چې چارواکي یې د ملت خادمان وي، نه د ملت واکمنان او ظالمان.

خلک غواړي خپل سـرنوشـت په خپله وټاکي او د خپلو اولادونو لپاره روښـانه راتلونکی ووینې. خلک غواړي مظلوم دا حق ولري چې د خپل حق غوښـــتنه وکړي او ظالم وپېژندل شـــي. خلک غواړي د حق او حقیقت د ویلو حق ولري. خلک غواړي پوه شـــي چې د دوی مالیه او ټکس چېرته او څنګه مصـــرفېږي. خلک خپلو اولادونو ته د تعلیم حق غواړي؛ د روغتیا حق غواړي؛ د قانون پر وړاندې برابري غواړي؛ طبقاتي نظام نه غواړي. خلک غواړي له نړۍ ســـره

ketabton.com - The Digital Library

سالم او متوازن روابط ولري، آزادانه سفر وکړي او د نړۍ هېوادونه ورته د ويزو دروازې پرانيستې پرېږدي.
خلک عملي اسلام غواړي؛ داسې اسلام چې د عدالت، امانت، شفافيت او حساب‌ورکونې په بنه د خلکو په ژوند کې څرګند شي؛ داسې نظام غواړي چې چارواکي د خلکو په وړاندې د قانون او عدالت له مخې محاسبه شي، نه دا چې قانون يوازې د کمزورو لپاره وي.
خلک په محکمو کې توپير نه غواړي؛ د معادنو او ملي شتمنيو په استخراج کې تبعيض نه غواړي؛ خلک غواړي مقررۍ او ټاکنې د مسلکي وړتيا، صداقت، تجربې او شخصيتي اهليت پر بنسټ ترسره شي، نه د واسطې، اړيکو ډليزو او شخصي خوښې له مخې.

که ملت ته دا ټول ورکړل شي، بيا به ملت يوازې له نظام سره نه درېږي؛ بلکې قرباني به هم ورکوي، خوښي به هم ورسره لمانځي، غم او همدردي به يې هم شريکوي او نظام به د خپل ځان نظام ګڼي.
خو که د ملت مشروع غوښتنې، دردونه او پوښتنې په پرله‌پسې ډول له پامه وغورځول شي، نو د ملت مرموزه چوپتيا بايد عادي ونه ګڼل شي؛ کېداى شي دا د خطر زنګ وي، د مخ اړولو پيل وي او يا د بېزارۍ د اعلان لومړۍ نښه.
ملتونه تل په شور او شعارونو خپل نظر نه څرګندوي؛ کله ناکله د ملت خاموشي تر ټولو لوړ غږ وي.

♧♧♧♧

د يوې هديرې مخې ته په يوه لوحه دغه جملې ليکل شوې وې:
پرون موږ هم ستاسو په څېر وو
او سبا به تاسو هم زموږ په څېر شئ

نن چې تاسو زموږ پر قبرونو ولاړ ياست سبا به نور ستاسو پر قبرونو ولاړ وي.
هغه چې خلکو ترې له تاسو مخکې د زمکې خدايان جوړ کړي ول هغوي دلته

ketabton.com - The Digital Library

مونږ سره يو ځای په هديره کي پراته دي
د الله تعالی لپاره، لږ په خود راشي

د بندګانو بندګي پرېږدي د خدای تعالی بندګي وکړئ.

♧♧♧♧

موږ هر کال درې د آزادۍ ورځې لمانځو: له انګرېزانو څخه د آزادۍ ۱۰۷ کاله، له روسانو څخه ۳۷ کاله او له امريکايانو څخه ۵ کاله تېر شوي دي.

په بل عبارت، موږ هر ځل خپله خاوره بېرته آزاده کړې؛ يعنې خپله جغرافيه مو بېرته د خپل کنټرول، حاکميت او واک لاندې راوستې ده. خو که د افغانستان د تاريخ د برم، شوکت، سياسي نفوذ او ستراتيژيکي دبدبې زمانو ته وکتل شي، د غزنوي، غوري او دراني دورو نومونه په ځانګړې ځلا راڅرګندېږي. هغه مهال يوازې د خپلې خاورې د آزادولو او د بهرني دښمن د شړلو په فکر کې نه وو؛ بلکې سرحدونه مو پراخول، نفوذ مو غځاوه او بيرغونه مو د ډهلي، لاهور او بنګال تر مانيو رسول. هغه امپراتورۍ چې زموږ د واک او نفوذ پر وړاندې ودرېدې، له منځه ولاړې؛ خو انګرېزان، روسان او امريکايان له افغانستانه له وتلو وروسته هم د نړيوال سياست، اقتصاد، امنيت او ستراتيژيکو معادلو له مهمو اغېزمنو ځواکونو څخه پاتې دي.

نو د آزادۍ ريښتينی مفهوم يوازې د بهرني ځواک وتل نه دي؛ حقيقي آزادي هغه وخت معنا پيدا کوي چې يو ملت دومره پياوړی، متحد، باثباته او ستراتيژيک فکر ولري چې خپله خاوره وساتي او خپل سياسي، اقتصادي، امنيتي او ملي راتلونکی پرته له بهرني انحصاره پخپله وټاکي. همدا هغه واټن دی چې بايد د ،،آزادۍ ترلاسه کولو،، او ،،آزادۍ ساتلو،، ترمنځ طی شي؛ له هغه وروسته د ځواکمن ملت، باثباته دولت او با نفوذه هېواد د جوړولو پړاو پيلېږي.

که د انګرېزانو، روسانو او امريکايانو پر وړاندې زموږ د جګړو تلفات او ويجاړۍ د غزنوي، غوري او دراني دورو له جګړو سره پرتله کړو، يوه مهمه

ketabton.com - The Digital Library

پوښــتنه راولاړېږي: ولې زموږ تلفات دښــمن ته د اوښــتو زیان په پرتله دومره درانه وو؟ ولې میلیونونه انســانان ووژل شــول، میلیونونه مهاجر شــول او هېواد مـــو څـــو ځـــلـــه پـــه کـــنـــډوالـــو بـــدل شـــــو؟
حـال دا چې د غزنوي، غوري او دراني دورو پـه ډېرو جګړو کې د جګړې اصلي جغرافیه زموږ له سرحدونو هاخوا وه او دروند بار یې پر نورو جغرافیو پرېوت.

صــلي پوښــتنه دا ده: ولې موږ له هغه حالت څخه دې حالت ته راورســېدو چې دښمن د لسګونو زرو کیلومترو له لرې زموږ خاورې ته راغی، دلته یې جګړه وکړه، زموږ خلک یې ووژل، کورونه او ښــارونه یې ویجاړ کړل او هېواد یې په کنډوالو بدل کړ؟

زموږ خلکو د جهادي مقاومت او د اغیار پر وړاندې د مبارزې په ټولو پړاوونو کې بې‌ســاري او درنه قرباني ورکړې ده؛ خو د تاریخ یو بل صــریح حقیقت هم باید ومنو: موږ لندن نه دی نیولی، مســکو مو نه دی نیولی او واشــنګټن مو نه دی نـــیـــولـــی؛ مـــوږ خـــپـــل کـــابـــل بـــېـــرتـــه نـــیـــولـــی دی.
نو د سلطان محمود غزنوي، شهاب‌الدین غوري او احمدشـاه دراني د جګړو او د وزیر محمد اکبر خان، ملا مشـــک عالم، امان‌الله خان، مجاهدینو او طالبانو د جـــګـــړو تـــرمـــنـــځ اصـــــلـــي تـــوپـــیـــر څـــه و؟
توپیر پـه ســــتراتیژیـک موقعیـت او د جګړې پـه مـاهیـت کې و.
هلته موږ په تعرضـــي حالت کې وو؛ دلته مو دفاع کړې ده. هلته مو د نورو جغرافیـایي حـدودو تـه ورننوتـل او خپلې پولې مو پراخولې؛ دلتـه مو لـه خپلې جغرافیې دفـاع کړې ده. هلتـه مو د نورو نظـامونـه او جغرافیـایي معـادلې بدلې کړې؛ دلتـــه مـو بـهـرنـي ځـواکـونـه لـه خـپـلـې خـاورې شـــړلـي دي.
لـه همدې املـه د جګړې جغرافیـه هم بدلـه وه: هلتـه جګړه تر ډېره زموږ لـه ســـرحدونو هاخوا وه؛ دلته زموږ په کور، کلیو او ښــارونو کې وشــوه، نو د انساني او مادي زیان تر ټولو دروند بار هم زموږ پر اوږو پرېوت.

مهمه پوښــتنه دا ده: ولې موږ په یوه پېړۍ کې درې ځله اشـغال شـو، درې ځله مو هېواد په پراخه کچه ویجاړ شـــو، میلیونونـه انســـانان مو ووژل شــــول او میلیونونه نور مهاجر شول؟

ketabton.com - The Digital Library

لنډ ځواب دا دی: هلته مو ملي هويت، ملي واحد روايت او ملي تړون رامنځته کړی و؛ له همدې امله مو د خپل سياسي ځواک د پراختيا توان پيدا کړی و. خو وروسته مو ونه شو کولای چې د جګړې پر مهال رامنځته شوی وحدت په دوامدار ملي وحدت بدل کړو.

بهرنيو لاسوهنو، کورنيو انحصارونو، د ملي وحدت کمزوري، د يو بل د نه منلو، حذف، انتقام او وژنې سياستونو موږ داسې حالت ته ورسولو چې بيا بيا د نورو د مداخلې او اشغال زمينه برابره شوه. يعنې موږ د بهرني دښمن پر وړاندې د ملت په توګه سره يو ځای شو، خو د هغه له وتلو وروسته مو د ملت جوړونې تاريخي فرصتونه له لاسه ورکړل.

زما تمه دا وه چې نن به د محترمو چارواکو په خبرو کې، د يوې پېړۍ د اشغالونو، جګړو، ويجاړيو او قربانيو له تجربې وروسته، د يوه لوی، متحد، باثباته او باعزته افغانستان لپاره د ملي وحدت، ملي تړون، ټولشموله ملي هويت او اوږدمهالې ستراتيژۍ په اړه داسې خبرې واورم چې د راتلونکو لسيزو لپاره يو لوی انځور ترسيم کړي.

تمه مې لرله چې د دې ورځې پيغام يوازې د تېرې بريا لمانځنه نه وي؛ بلکې دا پوښتنې هم مطرح کړي: له دې وروسته څه ډول افغانستان جوړوو؟ څنګه آزادي ساتو؟ څنګه ملي باور پياوړی کوو؟ څنګه د اختلاف پر ځای ملي توافق، د حذف پر ځای مشارکت، د انتقام پر ځای عدالت او د تقابل پر ځای ملت جوړونه غوره کوو؟

له محترم خليفه صاحب پرته، د نورو ډېرو ويناوو په ژبه کې تر ډېره د ګواښ، حذف او پخوانۍ تقابلي ژبې سيوری غالب و. حال دا چې د تېرو سلو کلونو تر ټولو ستر ستراتيژيک درس بايد دا وي: يوازې د بهرني دښمن شړل ملت نه پياوړی کوي؛ ملت هغه وخت پياوړی کيږي چې خپله داخلي جبهه منظمه کړي، ملي هويت تعريف کړي، ګډ ملي روايت او ملي تړون رامنځته کړي، د اختلافاتو د مديريت فرهنګ پيدا کړي او د حذف پر ځای مشارکت او د انحصار پر ځای ملي اجماع غوره کړي.

ketabton.com - The Digital Library

موږ د آزادۍ لپاره ډېرې قرباني ورکړې دي؛ اوس باید د آزادۍ د ساتلو، ثبات، عزت، اقتصادي ځواک، سیاسي خپلواکۍ او د یوه ځواکمن افغانستان د جوړولو لپاره هماغومره هوښیار، متحد، زغمناک او ستراتیژیک فکر وکړو.

زموږ څخه وروسته، په یوه سیاسي معامله کې چې نږدې هېڅ قرباني یې نه وه ورکړې، داسې هېوادونه جوړ شول چې نن د نړۍ ځواکمن او اټومي هېوادونه دي؛ زموږ پر سر معاملې کوي، معادلې بدلوي او لا هم د یو بل د حذف لپاره سیاسي او ستراتیژیکې لوبې کوي.
ځکه د تاریخ اصلي پوښتنه یوازې دا نه ده چې موږ څو ځله خپل هېواد آزاد کړی؟

اصلي پوښتنه دا ده: ولې مو څو ځله آزاد کړی، خو څو ځله مو بېرته د اشغال، جګړې، کډوالۍ او ویجاړۍ تجربه تکرار کړې؟
او تر ټولو مهمه پوښتنه یې دا ده:
ایا دا ځل به د آزادۍ تر څنګ د آزادۍ د ساتلو، ملت جوړونې، دولت جوړونې او د یوه ځواکمن افغانستان د جوړولو هنر هم زده کړو؟

♧♧♧♧

ولې ابوبکر صدیق رضي الله تعالی عنه له ټولو صحابه‌وو غوره و؟
ابوبکر صدیق رضي الله تعالی عنه د ابو ذر او ابو هریره رضي الله تعالی عنهما په څېر فقیر او بېوسه نه و؛ خو بیا هم تر هغوی غوره و.
هغه د بلال بن رباح، خباب، عمار بن یاسر، سمیې او یاسر رضي الله تعالی عنهم په څېر هغه سخت او مسلسل تعذیبونه نه وو لیدلي چې د اسلام پرېښودو لپاره پرې وشول او تر شهادته ورسول شول؛ خو بیا هم تر هغوی غوره و.
هغه په جګړو کې د طلحه، ابو عبیده او خالد بن ولید رضي الله تعالی عنهم په څېر بدن نه و ټپي کړی؛ خو بیا هم تر هغوی غوره و.
هغه د الله تعالی په لاره کې د عمر بن الخطاب، عثمان بن عفان، علي بن أبي طالب، حمزة بن عبدالمطلب، مصعب بن عمیر او سعد بن معاذ رضي الله تعالی عنهم په څېر شهید هم نه شو؛ خو بیا هم تر هغوی غوره و.

ketabton.com - The Digital Library

نو دا څه عجیب راز و چې ابوبکر رضي الله عنه ته یې داسې لوړ مقام ورکړی و چې د نورو ډېرو ستري هڅې هم ورته ونه رسېدې؟ راز د زړه په اعمالو، د الله تعالی پر ورانديې په محکم ایمان او د اخلاص په ژورواليې کې و.

اخلاص، یقین، تواضع، ترحم، مینه، ایثار او له رسول الله ﷺ سره بېساري محبت؛ همدا هغه پټې پانګې وې چې د ابوبکر صدیق رضي الله عنه مقام یې دومره لوړ کړ.

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت شوی چې ویې فرمایل: لو وُزِن إيمان أبي بكر بإيمان أهل الأرض لرجح إيمان أبي بكر. که د ابوبکر رضي الله عنه ایمان د ځمکې د ټولو خلکو له ایمان سره وتلل شي، د ابوبکر ایمان به پرې درونډ شي. او امام مزني رحمه الله ویلي دي چې د ابوبکر رضي الله عنه فضیلت یوازې د ډېرو لمونځونو او روژو له امله نه و؛ بلکې د زړه د یقین، اطمینان، رحمت او محبت له امله و.

نو د انسان اصلي عظمت یوازې په ظاهري اعمالو، سختیو، قربانیو او د عبادت په شمېر نه سنجول کېږي؛ د عمل روح، د زړه اخلاص او د الله تعالی پر ورانديې د بنده حالت تر هر څه مهم دی. له همدې امله د قیامت په ورځ به نجات د هغه چا لپاره وي چې سالم زړه ولري. الله تعالی فرمایي:

إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ

نو، محترمو او قدرمنو ورونو!

په خپلو اعمالو فخر کول، چې ما علم کړي ، ما جهاد کړي ، ما قرباني ورکړي ، ما حجونه کړي، ورسره د نورو عامو مسلمانانو سپکاوی، زور او شدترویه، تکبر او ځانونه له نورو ډېر متقان او پرهېزګار ګڼل؛ منصبونه، مقامونه او امتیازات د اعمالو په بدل کې حق ګڼل.. دا ټول د قلب سلیم له صفاتو سره په ټکر کې دي. کېدای شي یو انسان ډېر ظاهري عبادتونه ولري، خو که زړه یې له کبر،

ketabton.com - The Digital Library

تحقير، کينې، خواهشـــاتو او ځان‌غوروني ډک وي، نو بايد تر هر څه مخکې د خــپــل زړه د اصـــــلاح فـــکـــر وکـــړي.
اللهم ارزقنا قلوباً سـليمة، وإيماناً صـادقاً، وإخلاصـاً خالصـاً، وحباً لنبيك ﷺ.
کله چې مو دا ليکنه ولوســـتله، يو ځل پر رســـول الله ﷺ درود وواياســـت:
اللهم صلِّ على محمدٍ وعلى آل محمد، كما صليتَ على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميدٌ مجيد.

تعصب دوه ډوله خلک ړندوي:

هغه څوک چې د نظامونو ملاتړ کوي، د نظامونو نيمګړتياوې او بدۍ نه ويني؛ او هغه څوک چې د نظامونو مخالف وي، د هغوی ښـېګڼې او مثبت اړخونه نه شي ليدلای.

د قرآن کريم دغه آيات فلسفه همدا ده

صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لَا يَعْقِلُونَ

تعصب انسان له حقيقت ليدلو او عقلاني فکر کولو ړندوي.

که فرضاً نن امارت له مخالفينو سره د سياسي مذاکراتو لپاره چمتو شي، پوښتنه دا ده چې د افغانسـتان د اپوزيسـيون له کوم واحد ادرس سـره به خبرې وکړي؟ ايا د مخالفينو ترمنځ داسې واحد سياسـي جريان شته چې د افغانسـتان په اړه د يوه منظم، واحد او مشـــروع دريځ پـه توګـه د مـذاکراتو پر مېز کښـــېني؟ نن د جبهه متحد، جبهه مقاومت، جبهه آزادۍ، فاطميون، د پخواني جمهوريت بېلابېلې څېرې او نورې ډلو دعوې شته؛ خو د افغانستان په اړه نه يو واحد ملي ادرس لري او نـه هم يو واحد ملي روايت. کـه دوی د افغانســـتان د خلکو د نمايندګۍ دعوه کوي، نو پوښـــتنه دا ده چې د دې نمايندګۍ حجم او کچه څومره ده او د دوی د واقعي ســـياســـي وزن مطابق بايد په مذاکراتو کې څومره مقام ورکړل شي؟

که د دوی اصـلي دعوه دا وي چې بايد د افغانسـتان خلکو ته مراجعه وشـي او هر څوک چې ملت يې وغواړي او پرې راضـي وي، هماغه دې په افغانسـتان کې د حکومت او حاکميت حق ولري، نو بيا يوه بله جدي پوښتنه مطرح کېږي:

ketabton.com - The Digital Library

که ملت ته مراجعه د ټولو قدر مشـترک وي، نو ولې په تېرو پنځو کلونو کې د یوه واحد دریځ، واحد سـیاسـي ادرس او واحدې جبهې په جوړولو کې پاتې راغلي دي؟

عجیبه وضـعیت دی؛ مشـترکه دعوه شـته، خو مشـترک ادرس نشـته؛ د ملت د نمایندګۍ ادعا شته، خو واحد ملي روایت نشته؛ د افغانستان د راتلونکي په اړه خبرې کېږي، خو د دې خبرې لپاره یو واحد او د منلو وړ سیاسي میز نه شته. تر هغه چې مخالف جریانونه خپل منځ کې د افغانسـتان پر سـر لږ تر لږه مشـترکه اجنډا، واحد سـیاسـي ادرس او د ملت د ارادې د معلوملو پر یوه روښانه میکانیزم هوکړې ته ونه رسېږي، د ..ملت ضمني نمایندګۍ.. دعوه به تـر ډېـره یـوه هـوایـي ادعـا پـاتـې وي، موږ ډېر ځله د خپلو ټولو ناخوالو، کمزوریو او ناکامیو ملامتي پر حکومتونو اچوو؛ خو د ټولنې د افرادو په توګه خپل مسـؤولیت ته تقریباً بشـپړه شـا کوو. اوړدې ګیلې کوو، سـختې نیوکې کوو او داسـې خبرې کوو چې ګواکې موږ له هرې تېروتنې، فساد، درغلۍ او اخلاقي کمزورۍ څخه پاکه او «مقدسه هستي» یو، او د ټولنې ټولې ستونزې یوازې حکومتونه، چارواکي او نظامونه جوړوي.

خو که لږ له احساساتو تېر او له ځان سره صادق شو، باید وپوښتو: په تېلو کې درغلي څوک کوي؟ بې‌کیفیته دوا څوک بازار ته وړاندې کوي؟ په صرافیو کې سـود او غیرقانوني معاملات څوک کوي؟ په مصـالحو، خوراکي توکو او نورو توکو کې ملاوټ څوک کوي؟ په ودانیو، سـړکونو، پلونو او نورو زیربناوو کې د معیار او کیفیت له مراعاتولو پرته کار څوک کوي؟ په ادارو کې فسـاد څوک کوي، رشـوت څوک غواړي او څوک یې ورکوي؟ د نورو هېوادونو لپـاره جاسـوسـي څوک کوي؟ په بازارونو کې احتکار، ګران‌فروشـي او د خلکو له اړتـیـاوو نـاوړه اسـتـفـاده څـوک کـوي؟ په ټولنیزو رسـنیو او رسـنیو کې کنځلې، سـپکاوی، تهمت، رد او بد رد څوک کوي؟ د اختلاف پر ځای د شـخصـیت وژنې فرهنګ څوک پالي؟ دروغجن خبرونه او اوازې څوک خپروي او د خلکو ترمنځ بې‌باوري څوک زیـاتوي؟ په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د واسطې، نقل او درغلۍ فرهنګ څوک پیاوړی کوي؟ په دندو کې واسطه او خپلوي څوک تر وړتیا غوره ګڼي؟ په ادارو کې د

ketabton.com - The Digital Library

مســـؤولیت پر ځای بې‌پروایي، د کار پر ځای مصــــلحت او د قانون پر ځای شخصي اړیکې څوک حاکموي؟ ځمکې څوک غصبوي، اسناد څوک جعلوي او عــامــه شـــتــمــنــۍ څــوک شـــخصــــي ګــټــې تــه اړوي؟ د ترافیکي اصـــولو ماتول، د عامه نظم نه مراعاتول، په کوڅو او عامه ځایونو کې د کثافاتو غورځول، د کارګر حق ځنډول، د مزدور مزد نـه ورکول، پـه معاملو کې دروغ ویل، په وزن او پیمانه کې کمی کول او په ســـوداګرۍ کې د اعــتــمــاد پــر ځــای فــریــب کــارول... دا ټــول څــوک کــوي؟ د کورني تاوتریخوالي، د ښـځو او ماشـومانو د حقونو تر پښـو لاندې کولو، د میراث په حق کې ظلم، د کمزوري او بې‌وسـه انسـان د حق خوړلو او د یتیم او مســـکین لـه اړتیا څخـه د نـاوړه اســـتفادې مســـؤولیت د چا پر غاړه دی؟ موږ ډېر وخت د فساد، بې‌عدالتۍ، فقر، کمزورې ادارې او ټولنیزو ستونزو پړه یوازې پر حکومتونو، چارواکو او سیاسـي مشـرانو اچوو؛ خو یوه مهمه پوښتنه مو لـه ځانـه هېره کړې ده: کـه نظـام خراب دی، نو پـه هغـه خراب نظـام کې د فسـاد، درغلۍ، رشوت، دروغو، بې‌کیفیته کار او اخلاقي زوال ترسره کوونکي څوک دي؟

حکومت، اداره او قانون د ټولنې مهم عناصـر دي؛ خو ټولنه یوازې حکومت نه دی. دولت هغـه وخت اصــــلاح کېږي چې د دولت ترڅنـګ د ټولنې اخلاق، بازار، کورنۍ، ښوونځی، رسنۍ، دیني او ټولنیز شعور او د فرد مسؤولیت هم اصلاح شي.

اصـلاح یوازې لـه دې پوښـتنې نـه پیلېږي چې : حکومت څه کوي؟ بلکې لـه دې پوښتنې هم پیلېږي چې :

زه څه کوم؟

تر هغه چې موږ د نورو د فســـاد پر وړاندې غږ پورته کوو، خو خپل کوچنی فســـاد عادي ګڼو؛ د رشـــوت اخیســـتونکی غندو، خو رشـــوت ورکوونکی ځان مجبور بولو؛ د درغلۍ خبرې کوو، خو په خپل کاروبار کې درغلي توجیه کوو؛ د قانون غوښـتنه کوو، خو د خپلې ګټې لپاره یې ماتوو؛ د اخلاقو درس ورکوو،

ketabton.com - The Digital Library

خو په ټولنیزو رسنیو کې د مخالف د سپکاوي لپاره هره کربنه اوړو... تر هغه به زموږ د اصلاح خبرې نیمګړې وي.

فســـاد یوازې په دولتي دفترونو کې نه وي؛ فســـاد هغه وخت په ټولنیز بحران بدلیږي چې له فرد څخه تر ادارې، له بازار څخه تر رســنیو او له کورنۍ څخه تر ســـیاســـت پورې د ژوند په بېلابېلو برخو کې د منلو وړ عادت وګرځي. له همدې امله، د ســـالمې ټولنې جوړول یوازې د حکومت مســـؤولیت نه دی. حکومت قانون جوړولی شـــي، اداره رامنځته کولی شـــي، څارنه کولی شـــي او مجازات کولی شي؛ خو د هر انسـان پر ځای صـادقانه معامله نه شـي کولی، د هر سوداګر پر ځای کیفیت نه شي تضمینولی، د هر پلار پر ځای ښه اخلاق نه شـــي روزلی او د هر وګړي پر ځـــای قـــانون نـــه شـــي مراعـــاتولی. حکومت هر څه نه شي کولای. که موږ غواړو حکومت اصلاح شي، باید خپله برخـه هم اصـــلاح کړو. یوازې د چاروا‌کو ملامتول او د نظـامونو نقدول د ستونزو ریښې نه وچوي؛ ریښتینې اصلاح هغه وخت پیلیږي چې د ..هغوی .. تـــر څـــنـــګ د .. مـــوږ.. پـــوښـــتـــنـــه هـــم مـــطـــرح کـــړو. هېوادونـه یوازې پـه حکومتونو نـه اصـــلاح کیږي؛ د حکومـت او ملـت ګډ مسؤولیت دی چې اصلاح رامنځته کوي.

♧♧♧♧

نه پوهیږم چې د کوم کبر، غرور او سرکشۍ سزا راکول کیږي؛ د کوم ظلم او بغاوت داسې پور مو پر غاړه دی چې نږدې پنځوس کاله کیږي، خو لا مو توبه نـــه قبلـیږي. ښـــه پـوهـېږو، خـو بـیـا هـم ځـانـونـه نـه پـوه کـوو... که زموږ علم له عقل، عقل له حکمت، حکمت له فراســـت او فراســـت له تدبیر ســـره مل وای، ښـــایي دا مظلوم ملت بـه دومره بي وســـه او فقیر نـه وو د تېرو پنځوســـو کلونو په ناورین کې تر ټولو دردونکې خبره دا ده چې یوازې ناپوهان ملامت نه وو؛ پروفیسـور، انجینر، ډاکټر، د پوهنتون اسـتاد، دیني عالم او سـیاسـتوال... هر یوه د خپل علم او مقام په اندازه خپله برخه جفا وکړه. علم مو ډېر و، خو د علم امانت مو ونـه ســـاته؛ خبرې مو ډېرې وې، خو د حق په وخت کې مو غږونه کم وو.

ketabton.com - The Digital Library

څه چې اوس وينم، زړه مې نه مني. هره خوا د يوې ضـــايع شــوې موقع، يوې ماتې هيلې او يوه پټ فرياد ننبه ښکاري.

♣♣♣♣♣

کله کله مې زړه غواړي له دې ټولو شور، بحثونو او حسابونو لرې، يوې تشې بيديا ته لاړ شــم؛ هلته يوازې زه او زما رب وي. ســـر په خاورو کې کېږدم او دومره وژاړم، دومره وژاړم چې د کلونو کلونو راټول شوی درد مې له اوښـکو ســـــره ووځـــــي او زړه مـــــې لــــږ ســــــپــــک شـــــــي.
کلـه کلـه نـه پوهېدل هم لوی نعمت وي؛ ځکه ځينې حقيقتونـه دومره درانـه وي چې د انســان زړه يې د زغملو توان له لاسـه ورکړي. او کله کله بې‌حسـي هم د ســــــتــــــړي زړه لــــــپــــــاره يــــــو ډول راحــــــت وي.
ملګرو! دعا التماس چې غلط مو مه درک کوي، هيڅ څوک مستقل مخاطب ندي بلکـه د مکـار دښـــمن ارادي او زموږ غفلـت د لســـيزو داســـتـــان دی.
لـــويـــه خـــدايـــه! پـــاک ربـــه! يـــا ذوالـــجـــلال والاکـــرامـــه!
که زموږ په پوهه کې ناپوهي، په علم کې بې‌عملي، په خبرو کې ريا او په عمل کې جفا وه، موږ وبخښـــه. هغه ګناهونه مو راوبخښـــه چې ته يې زموږ څخه ناراضــه کړي يې. هغه ظلمونه مو معاف کړه چې پر يو بل مو کړي، او هغه غفلتونـــه مو وبخښـــــه چې د دې وطن د درد پر وړانــدې مو کړي دي.
يا الله! زړونه مو نرم کړه، سترګې مو په رښـتينو اوښـکو لمدې کړه، وجدانونه مـو راويښ کـړه او زمـوږ لــه تېـرو خطــاوو راتـلـونـکـی مــه تـبـاه کـوه.
يا رب! که دا اوښـکې ستا د رحمت دروازه ټکوي، نو تشـې يې مه راګرځوه...
آمين، يا رب العالمين.

♣♣♣♣

يــو څــوک چــې ځــان تــه ديــنــي عــالــم هــم وايــي، لــيــکــلــي يــې دي:
د رزق خـو الله تـعــالـی وعــده کـړې؛ نـو حـکـومــت پـرې ولـې مـلامـتـوي؟
جناب عالي! بالکل،د رزق الله تعالی وعده کړی؛ خو د الله تعالی ســـنت دا دی

ketabton.com - The Digital Library

چې رزق د اسبابو، وسایلو او نظامونو له لارې انسان ته رسېږي. رزق له اسمانه د تیارې بستې په بڼه نه راکوزېږي؛ انسان باید کار وکړي، اسباب وکاروي، او حکومت باید د هغو اسبابو د برابرولو او سم مدیریت مسؤولیت ادا کړي.

د حکومت مسؤولیت دا نه دی چې هره ورځ هر کور ته د خوراک یوه کڅوړه ورسوي؛ د حکومت اصلي مسؤولیت دا دی چې امنیت، عدالت، قانون، تعلیم، روغتیا، صنعت، زراعت، تجارت، بازار، زیربناوې او د کار او تولید زمینه برابره کړي، څو خلک په عزت خپل رزق پیدا کړي. حکومت چې مالیات، ټکسونه، زکات، عشر او نور عواید راټولوي، دا د واکمن شخصي مال نه دی؛ عامه امانت دی. حکومت د خلکو د خدمت لپاره دی، نه د خلکو د جیبونو، منابعو او اختیار د قبضې لپاره. که حکومت د خلکو له جیبونو عایدات راټولوي، اقتصادي منابع انحصاروي، د کار او تجارت لارې تنګوي، د تولید زمینه نه برابروي او عامه خدمات کمزوري کوي؛ خو بیا خلکو ته وایي: رزق خو الله ورکوي، خپله یې پیدا کړئ! نو دا د مسؤولیت منلو پر ځای د دین په نوم د حکومتونو د ناکامۍ توجیه کول دي.

قرآن کریم د حضرت یوسف علیه السلام له لارې د حکومتدارۍ یو ژور اصل رانښیي. د قحطۍ پر مهال یې یوازې دا ونه ویل چې «رزق الله ورکوي»؛ بلکې اقتصادي پلان یې جوړ کړ، د غلو د تولید، ذخیرې او وېش نظام یې تنظیم کړ او د راتلونکي بحران لپاره یې تدبیر ونیو. یعنې توکل پر الله، خو تدبیر د اسبابو؛ ایمان پر تقدیر، خو مسؤولیت په عمل. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: كُلُّكُمْ رَاعٍ، وَكُلُّكُمْ مَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ

تاسو هر یو مسؤول یاست او هر یو به د خپلې رعیت په اړه پوښتل کېږئ. حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به د شپې د خپل رعیت حال څاره. کله یې چې ماشومان له لوږې ژاړي ولیدل، د بیت المال څخه یې خواړه واخیستل او خپله یې پر اوږه کړل. کله چې غلام یې د بار وړلو غوښتنه وکړه، عمر رضي الله عنه ورته وویل:

ketabton.com - The Digital Library

ایا تــه بــه زمــا بــار پــه آخــرت کــې هــم پــورتــه کــوې؟ بیا یې تر هغه پورې خپله د ماشـــومانو لپاره خواړه تیار کړل، چې هغوی ویده شول.

جناب ملا صـیب! ته له حضـرت عمر رضـــي الله تعالی عنه څخه ډیر په قران کریم نه پوهیږې..

نو د حکومت مســـؤولیت په دې یوه جمله نه ختمیږي چې: رزق د الله په لاس کې دی.

هو، رزق د الله تعالی په لاس کې دی؛ خو د رزق اســـباب، د خلکو حقوق، د بیت المال امانت، د اقتصـاد مدیریت، د کار فرصـتونه، عدالت او عامه خدمتونه د حکومتونو له مسؤولیت څخه نه ساقطیږي.

حاکم چې واک غواړي، باید مســـؤولیت هم ومني؛ مالیات غواړي، باید خدمت وکړي؛ د خلکو منابع اداره کوي، باید حســـاب ورکړي؛ د ملت په نوم واک چلوي، باید د ملت د ژوند، امنیت او هوســـاینې په اړه ځواب ویونکی وي. حــکــومــت د رعــیــت مــالــک نــه دی؛ امــیــن یــې دی. بیت المال د واکمن شخصي خزانه نه ده؛ عامه امانت دی.

قدرت امتیاز نه دی؛ مسؤولیت دی.

او د خلکو فقر، بېکاري او اقتصـــادي محرومیت د تقدیر په نوم توجیه کول او آیات څخه ناسم برداشت اخیستل په داسې حال کې چې د فقر د ډېرو اسبابو د له منځه وړلو واک د حکومت په لاس کې وي، د دین له مفاهیمو څخه خطرناکه سوءاستفاده ده.

نو که حکومت ټول واک، ټول منابع او ټول عایدات غواړي، خو د خلکو د ژونـد مســـؤولـیـت نـه مـنـي، بـایـد خـبـره ورتـه روښـــانـه وي: رزق الله ورکوي؛ خو د رزق د اسبابو برابرول، د ظلم مخنیوی، د اقتصاد سالم مدیریت، د خلکو د حقوقو ســاتنه او د عامه امانت حســـاب ورکول د حاکم له مسؤولیت څخه نه ساقطیږي.

تقدیر د مسؤولیت د تېښتې جواز نه دی؛

ketabton.com - The Digital Library

توکل د تدبیر بدیل نه دی؛

**او دین د حکومتونو د ناکامۍ د پټولو پرده نه ده.**

♣♣♣♣

یو قدرمن او محترم وزیر صاحب وایي:

په افغانستان کې چې خلک له حکومت څخه ناراضي شوي، نو په تاریخ کې ثابته شوې چې د نظام خلاف راپاڅېدلي او جګړه یې کړې ده.، هغه زیاتوي چې پنځه کاله خلک آرامه دي بناء خلک راضي دي دلته څو مهمې پوښتنې مطرح کېږي:
۱. ایا له حکومت څخه نارضایتي باید حتماً په جګړه پیل شي، که د سوله‌ییز اعتراض، نقد او اصلاح حق هم شته؟
۲. ایا هره جګړه چې د نارضایتي له امله پیل شي، په خپله مشروعه جګړه ګڼل کېږي؟

۳. د جګړې مشروعیت د خلکو له نارضایتي اخیستل کېږي، که د دیني، حقوقي او اخلاقي معیارونو له مخې سنجول کېږي؟
۴. ایا تاریخي واقعیت د یوې پېښې د حقانیت دلیل کېدای شي، که تاریخ یوازې موږ ته وایي چې څه پېښ شوي دي؟
۵. که یو څوک د حکومت له پالیسۍ سره مخالف وي، ایا تر هغه یې مخالفت معتبر نه دی چې وسله پورته کړي؟

۶. ایا سوله‌ییزه نارضایتي، سیاسي اختلاف، نصیحت او اصلاح غوښتنه د خلکو مشروع حق نه دی؟

۷. که د نارضایتي د څرګندولو قانوني او سوله‌ییزې لارې موجودې وي، ولې جګړه باید د نارضایتي طبیعي او حتمي پایله وبلل شي؟
۸. ایا د یو نظام د ثبات معیار دا دی چې خلک یې پر وړاندې جګړه نه کوي، که دا چې خلک وکولای شي خپلې نیوکې او غوښتنې په امنه فضا کې مطرح کړي؟
۹. که د خلکو غږ یوازې هغه وخت اورېدل کېږي چې جګړه پیل کړي، نو ستونزه په خلکو کې ده، که د نظام د اصلاح او حساب ورکونې په جوړښت کې؟

ketabton.com - The Digital Library

۱۰. په نهایت کې، ایا موږ باید داسې نظام ولرو چې د خلکو نارضایتي په جګړه بدله کړي، که داسې نظام چې نارضایتي په اصلاح، خبرو او سوله‌ییز سیاسي مشارکت بدله کړي؟

♧♧♧♧

عبرت او نصیحت!

امام حافظ او مشهور فقیه ابن رجب رحمه الله، چې په ۷۹۵ هـ کال کې وفات شوی، د هغه د ژوند په اړه یوه ډېره عبرتناکه پېښه نقل شوې ده. علامه ابن ناصرالدین دمشقي رحمه الله فرمایي: له هغه کس څخه چې د ابن رجب رحمه الله قبر یې کیندلی و، روایت دی چې شیخ ابن رجب رحمه الله له وفات څخه څو ورځې وړاندې ماته راغی او ویې ویل: زما لپاره دلته یو قبر وکینده. او هغه ځای ته یې اشاره وکړه چې وروسته هماغلته ښخ کړل شو. قبر کیندونکی وایي: ما د هغه لپاره قبر وکینده. کله چې له کیندلو څخه فارغ شوم، شیخ پخپله قبر ته ښکته شو، دننه یې څملاست، قبر یې وکوت او معاینه کړ ، بیا یې وفرمایل: دا ښه دی!

او له قبر څخه بېرته راووت.

قبر کیندونکی وایي: په الله تعالی قسم! لا څو ورځې نه وې تېرې شوې چې ناڅاپه مې ولیدل، د شیخ ابن رجب رحمه الله جسد په تابوت کې زما مخې ته راوړل شو. بیا مې هغه په هماغه قبر کې ښکته کړ، کوم چې ده د خپل ژوند په وروستیو ورځو کې پخپله خوښ کړی و.

رحمه الله رحمةً واسعةً.(الرَّدُّ الْوَافِر، ص ۱۰۷)

رحمان بابا وایي:

هر زنده چې د مرده په قبر ورشي

دومره بس دي نصیحت په دا دنیا

♧♧♧♧

ketabton.com - The Digital Library

دا د تاریخ یو طبیعي قانون دی چې نظامونه د عروج، ثبات او زوال له مرحلو تېرېږي. د عروج پر مهال د فرصتونو سمه استفاده د دوام او ثبات بنسټ ږدي؛ خو کله چې د زوال نښې راڅرګندې شي، فرصتونه نور یوازې فرصتونه نه وي، بلکې د بقا وروستي امکانات وي. هوښیار نظامونه د خپل قوت په ورځو کې د راتلونکي کمزورۍ لپاره تیاری نیسي؛ خو هغه نظام چې د زوال په آغاز کې هم واقعیت نه مني او فرصتونه ضایع کوي، په حقیقت کې خپل زوال نه یوازې مني، بلکې چټکوي یې. تاریخ ډېر کم نظامونه د دښمن په زور نسکور کړي؛ ډېری نظامونه لومړی له دننه د فرصتونو په ضایع کولو مري.

په الله تعالی سوګند یادوم چې که څوک ماته د افغانستان قدرت راکړي، نو د یوه ساعت لپاره یې هم نه قبلوم.

دومره ګناهګار یم چې نه پوهېږم په کومو سترګو به د خپلو ګناهونو سره الله تعالی ته مخامخ کېږم، نو د څلوېښت میلیونو انسانانو به څنګه الله تعالی ته ځواب ورکړم؟

که چا په خپل ځان لږ هم زړه درد کوي، هغه د افغانستان مسئولیت په غاړه نه

اخلي. که کوم واکمن له ما څخه مشوره اخلي، نو ورته وایم چې څومره ژر چې کولی شي د افغانانو لویه جرګه یا شورا راوغواړي او دا غم د هغوی پر غاړه ور واچوي، چې تاسو پوه شه او حکومت مو. مسئولیت په ټولو ورتقسیم کړه حکومتونو خوند خو په نورو دنیا کې دي. په دې یتیمانو او کونډو رنډو به څه حکومت وي؟ په دې بېوزلو او مسکینانو به څه حکومت وي؟ په دې ملت به څه حکومت وي چې په څلوېښت میلیونو کې یې نیمایي په لوږه ویده کېږي؟

په دې زورېدلو او بېوسه انسانانو به څه حکومت وي؟ باور وکړئ چې څوک د قدرت شوق نه لري، هغه دا مسئولیت نه مني. خلفاو راشدینو هم په خپله خوښه مسئولیت نه دی منلی، بلکې د نورو له خوا مجبور شوي دي.

تاسو باور وکړئ چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه تر شپږو میاشتو پورې لویې پرېکړې نه کولې، تر څو چې د یمن د خلکو ورته بیعت راورسېد او مطمئن شو

ketabton.com - The Digital Library

چې ټولو خلکو ورسره بیعت کړی او پرې راضي دي. موږ له تېرو پنځوسو کلونو راهیسې تر اوسه ملت له ټولو خپه او ناراضه دي، بیا هر یو په سپین سترګي وايي: «زه د ملت استازی یم». ونیسئ د ځان د معلومولو لپاره د پنځوس کلن ناورین مشران او ډلي دي دا اخلاقي جرات وکړي او په یوه ولایت کې دې په شفافه طریقه صندوق کېږدي او یوازې دوه پوښتنې دې له خلکو وکړي:

مونږ منئ که نه؟

له مونږ څخه راضي یاست که نه؟

**بیا به هر چا ته خپل ربښتیني حیثیت معلوم شي.**

♧♧♧♧

ګستاخ شیطان د الله تعالی له حکم څخه انکار وکړ او د خپل انکار لپاره یې غیرمنطقي دلیل وړاندې کړ. الله تعالی د سمدستي سزا پر ځای هغه ته مهلت او فرصت ورکړ؛ ویې ویل چې لاړ شه، که د خپل فکر او منطق له لارې خلک له حقه اړولی شې، هڅه یې وکړه. ملائکو هم پر ځمکه د انسان د خلافت په اړه پوښتنه او استفسار وکړ، خو په منطقي ډول یې د خپل نظر د څرګندولو هڅه وکړه. الله تعالی هغوی ته علمي او منطقي قناعت ورکړ.

مطلق قادر او خالق ذات خپل ښکاره دښمن ته مهلت او فرصت ورکړ، او خپلو ملائکو ته یې د پوښتنې او استفسار په وړاندې قناعت ورکړ. نه پوهېږم چې په موږ بندګانو څه شوي دي؛ نه چا ته مهلت ورکوو، نه د بل خبرې اورو او نه د قناعت او دلیل فرصت ورکوو! خوښه مو نه ده چې د کفر او اسلام، جنتي او دوزخي، مرتد او مسلمان، ښه او بد د پرېکړې صلاحیت بېرته الله تعالی ته وسپارو؟

♧♧♧♧

هغه صلاحیتونه چې نن مو، په لوی لاس، په خپلو لاسونو کې نیولي دي!

ketabton.com - The Digital Library

د افغانستان روانه انزوا نور د هېواد د راتلونکي پر وړاندې تر ټولو ستر خطر دی.
**اوسني چارواکي باید له دې خیال څخه راووځي** چې نړۍ به د دوی په سرزورۍ بدله شي. نړۍ نه بدلېږي؛ که موږ بدلون ونه کړو، موږ به له نړۍ پاتې شو.

منجمد سیاست، ځانغولونه او له واقعیتونو سره سرټکر د هېواد د بقا تګلاره نه ده؛ دا د فرصتونو د سوځولو تګلاره ده.

که انزوا همداسې دوام وکړي، افغانستان به یو په بل پسې تاریخي فرصتونه له لاسه ورکړي؛ او هغه فرصتونه چې نن د یوه هوښیار سیاست په وسیله ژغورل کېدای شي، سبا به ښایي د جبران وړ نه وي.

فارسي متل دی: «قهر فقیر، نخسِ فقیر»؛ څوک چې له نړۍ سره په قهر کې خپل ځان منزوي کوي، سزا یې تر ټولو مخکې خپله ویني. زما وېره دا ده چې د فرصتونو د له لاسه ورکولو په نشه کې به یوه ورځ راویښ شو او وبه ګورو چې خبره یوازې له سیاسي انزوا نه، بلکې د هېواد د بقا له جدي ننګونې سره مخ شوې ده. افغانستان د سرزورۍ، شعارونو او منجمد سیاست قرباني کېدو توان نور نه لري. وخت د بدلون دی؛ یا به یې خپله راولو یا به د نړۍ وروسته پاتې کیږو بیا به تاریخ هر څه په زور راولي.

♧♧♧♧

قوبیلای خان، چې د چنګېز خان لمسی او د مغولو (تاتاریان) د سترې امپراتورۍ واکمن و، د هغه امپراتوري له چین څخه تر اروپا پورې غځېدلې وه. په هغه وخت کې اسلامي سلطنتونه کمزوري شوي وو، او د مغولي دربار په سیاست کې یهودانو او مجوسیانو د پام وړ نفوذ درلود. ویل کیږي چې یو ځل د خراسان والي، چې د هلاکو خان له کورنۍ څخه و، قوبیلای خان ته پیغام واستاوه او ویې ویل: دلته یو شمېر یهودان او مجوسیان ادعا کوي چې د مسلمانانو په قرآن کې راغلي: هر چېرې مو مشرکان وموندل، ویې وژنئ. که دا د مسلمانانو عقیده وي، نو ښایي په راتلونکي کې زموږ لپاره ستونزې جوړې کړي.

قوبیلای خان، چې د اسلام له تعلیماتو سره یې لېوالتیا درلوده او په دربار کې یې د امیر محمد په نوم یو مسلمان وزیر هم و، د دې موضوع د روښانولو لپاره یو

ketabton.com - The Digital Library

شـــمېر مســـلمان عالمان خپل دربار ته راوغوښـــتل او پوښـــتنه يې ترې وکړه: ايا ستاسو په قرآن کې د مشرکانو په اړه داسې حکم شته؟

هغوی ځواب ورکړ: «هو.» او د توبې د ســـورت اړونـد آيت يې تلاوت کړ. قوبيلای خان بيا وپوښـتل: که داسې وي، نو تاسې ولې پر موږ دا حکم نه عملي کوئ؟

هغوی وويل: اوس موږ کمزوري يو؛ کله چې الله تعالی موږ ته ځواک راکړي، بيا به دا حکم عملي کړو.

د روايت له مخې، قوبيلای خان له دې ځواب څخه سخت په غوسه شو، امر يې وکړ چې هماغه عالمان د ووژل شـــي، او فرمان يې صـــادر کړ چې هر چېرې مسلمانان وموندل شي، ودي وژل شي. په پايله کې د مسلمانانو د وژنې لړۍ پيل شوه.

کله چې مولانا بدرالدين بيهقي او مولانا حميدالدين ســمرقندي له دې پېښـــې خبر شول، سمدستي د قوبيلای خان دربار ته ورغلل او ترې ويې پوښتل:

تـــاســــو د مســــلــمـــانــانـــو د قــتـــل عـــام حـــکـــم ولـــې صــــادر کـــړ؟ قوبيلای خان د هماغو عالمانو خبرې ورته بيان کړې او ويې ويل: ســـتاســـو د قرآن د دې حکم اصلي معنا څه ده؟

هغوی ورته وويل:

دا حکم د هغو عربو مشـرکانو په اړه و چې له مسلمانانو سره يې جګړه کوله او د هغوی د لـه منځـه وړلو لپاره چمتو وو. دا يو عـام او مطلق حکم نـه، بلکې د ځانګړو جګړهييزو شرايطو حکم و. ته نه د هغو خلکو له ډلې يې، نه د مسلمانانو پر ضـد جګړه کوې، بلکې د الله د وحدانيت درناوی کوې، په خپلو فرمانونو کې د الله نـوم يـادوې او لـــه مســــلـمــانــانـــو ســـره ښــــه چـلـنـد لـرې. د روايت له مخې، قوبيلای خان له دې وضـــاحت څخه خوښ شـــو، خپل پخوانی فرمان يې لغوه کړ او امر يې وکړ چې د مسـلمانانو وژنه دې سـمدسـتي ودرول شي.

**د دې روايت اصـــلي درس دا دی** چې د ژور علم، حکمت، بصـــيرت او د نصـوصـو د سم درک ترمنځ، او د سطحي او احسـاسـاتي فهم ترمنځ لوی توپير شته. څوک چې د ديني او دنيوي علومو بشپړ درک ونه لري، بايد د مسلمانانو د

ketabton.com - The Digital Library

برخلیک په اړه فتوا او پرېکړه ونه کړي.
د اسلامي تاریخ په اوږدو کې داسې بېلګې هم موندل کېږي چې ناپخې فتواوې، ناسنجول شوي دریځونه او له حکمت څخه لرې پرېکړې د دې لامل شوي چې زورور دښمنان راوپارول شي، هېوادونه اشغال شي او په پایله کې میلیونونه مسلمانان له ستر ناورین سره مخ شي.
د بېلګې په توګه، د خوارزم د سلطنت او چنګېز خان ترمنځ د شخړې په اړه په تاریخي سرچینو کې راغلي چې د خوارزم والي د مغولو سوداګر د جاسوسۍ په تور ووژل. وروسته چې چنګېز خان د موضوع د څېړلو او د ستونزې د حل لپاره استازي واستول، هغوی هم ووژل شول. همدا کار د سترې جګړې پیل وګرځېد، چې په پایله کې د خوارزم سلطنت له منځه ولاړ، او وروسته عباسي خلافت او د اسلامي نړۍ ډېرې سیمې له سختو ویجاړیو سره مخ شوې.
له همدې امله، موږ ډېر وخت یوازې د ظلم پایله وینو او وایو چې ظالم ظلم وکړ؛ خو لږ داسې کېږي چې دا هم وپوښتو: هغه کومې تېروتنې، ناپخې پرېکړې او ناسنجول شوي اقدامات وو چې ظالم ته یې د ظلم زمینه برابره کړه؟
البته دا پوښتنه د ظالم د ظلم توجیه نه ده، بلکې د امت او هیوادونو د ځان‌محاسبې، عبرت اخیستلو او د راتلونکو تېروتنو د مخنیوي لپاره یو مهم اصل دی.

♧♧♧♧

یوه ورځ اموي خلیفه عبدالملک بن مروان د کوفې خلکو ته وینا کوله. په همدې مهال د آل سمعان له کورنۍ یو سړی راپاڅېد او ویې ویل:
لږ تم شه، اې امیرالمؤمنینه! لومړی زما د ملګري حق وروړسوه، بیا خپله وینا بشپړه کړه.

عبدالملک وپوښتل:

د هغه کیسه څه ده؟

سړي وویل:

خلکو ورته ویلي وو چې ستا مظلومیت به یوازې د فلاني په منځګړیتوب عبدالملک ته ورسېږي.

ketabton.com - The Digital Library

نو زه هغه درته راوستم، څو په خپلو سترګو هغه عدالت ووينم چې تا د واک تر ترلاسه کولو وړاندې زموږ سره د هغه ژمنې کولې.
سړي وويل:

اې اميرالمؤمنينه! تاسې امر کوي، خو خپله پرې عمل نه کوي، له بدۍ منع کوي، خو خپله ترې نه منع کيږي؛ خلکو ته نصيحت کوي، خو خپله ترې پند نه اخلي.

نو موږ ستاسې د عمل پيروي وکړو، که يوازې ستاسې خبرې ومنو؟

که وايي چې زموږ امرونه ومني او زموږ نصيحت قبول کړي، نو هغه څوک به څنګه نورو ته نصيحت وکړي چې له خپل ځان سره يې دوکه کړې وي؟

او که وايئ چې حکمت له هر ځايه واخلئ او موعظه د هر چا ومني، نو بيا ولې مو تاسو ته د خپلو چارو واګې درسپارلې او تاسې مو زموږ پر وينو، مالونو او برخليک واکمنان وګرځول؟
ايا نه پوهيږې چې په خلکو کې داسې کسان هم شته چې د ژبو ډېر پوهان دي او په وينا او نصيحت کې تر تاسې ډېر فصيح او اغېزمن دي؟
که تاسې د هغه عدالت له ټينګولو عاجز ياست چې د واکمنۍ بنسټ پرې ولاړ وي، نو واک پرېږدې او واګې يې خوشې کړې، څو هغه اهل خلک يې پر غاړه واخلي چې تاسې ورسره په ښارونو کې جګړې وکړې او په هره سيمه کې مو يې يووالى مات کړ.

په الله تعالى قسم! که واکمني همداسې ستاسې په لاس کې پاتې شي، تر دې چې خپل وروستي پړاو ته ورسيږي، نو د الله حقونه او د بندګانو حقونه به له منځه ولاړ شي.

عبدالملک وپوښتل:

دا به څنګه کيږي؟

سړي وويل:

ځکه هر څوک چې د خپل حق غوښتنه وکړي، رټل کيږي؛ او څوک چې چوپ پاتې شي، تر پښو لاندې کيږي. نه د مظلوم غږ اورېدل کيږي، نه يې ظلم لرې

ketabton.com - The Digital Library

کېږي، او نه هغه څوک منع کېږي چې پر خلکو ظلم کوي.
او دا هم په یاد ولره چې ستا او ستا د رعیت ترمنځ به یوه ورځ د الله تعالی په حضور کې داسې محکمه وي چې د هغې له هیبته به غرونه ویلي شي. هلته به نه ستا پاچاهي پاتې وي، نه ستا واکمني، نه به دې ملاتړي درسره وي؛ بلکې پر تا به هغه عادل رب حکم کوي چې پر هېچا ظلم نه کوي.
کله چې عبدالملک دا خبرې واورېدې، پر خپل مخ ولوېد او په ژړا شو. لږ وروسته یې سر پورته کړ او ویې ویل:

اوس ووایه، ستا غوښتنه څه ده؟

سړي وویل:

ستا والي، چې په سماوه کې دی، پر ما ظلم کړی دی. شپه یې په لهو او ساعتېرۍ تېروي، ورځ یې په بې‌ګټې کارونو، او چلند یې له غرور، تکبر او ځان‌غوښتنې ډک دی.

**عبدالملک سمدستي خپل والي ته لیک ولیکه، امر یې وکړ چې د مظلوم حق بېرته ورکړي، او هغه یې له دندې هم ګوښه کړ.**

حواله: نفحة الیمن فیما یزول بذکره الشجن، ۴ مخ

♧♧♧♧

درې تاریخي واقعیتونه

لومړی:

که د هېواد د تېرو دوو پېړیو تاریخ ته وکتل شي، له جګړو پرته هېڅ بنسټیز بدلون نه دی راغلی. هرې ډلې او هر واک‌غوښتونکي د بدلون یوازینۍ وسیله جګړه ګڼلې، د جګړې اور یې بل کړی او د زور له لارې یې د خپل هدف د ترلاسه کولو هڅه کړې ده.

دوهم:

تر دې هم دردونکې دا ده چې د پرون مظلومان، کله چې واک ته رسېدلي، د نن تر ټولو ستر ظالمان ترې جوړ شوي دي. واک ته له رسېدو وروسته یې د

ketabton.com - The Digital Library

قدرت په څوکۍ داســـې منګولې ښـــخې کړې چې ځان يې د ملت له ارادې او مشـوري پورته ګڼلی دی. کبر، غرور، انحصــار او اسـتبداد دومره پراخ شـوی چې د ولس مشـوره يې د خپل مقام سـپکاوی بللی، او د ملت پر ځای يې يوازې خــپلـــې غـــوښـــــتـــنـــې او ګـــټـــې لـــومـــړيـــتـــوب ګـــرځـــولـــي دي. دريیم:

د تېرو پنځوسو کلونو تجربه هم همدا حقيقت ثابتوي. کله چې څوک په واک کې وي، ګـاونـډيـان د هېواد دښــــمـنـان معرفي کوي او خپل مخـالفين د ګـاونـډيو په مزدورۍ او غلامۍ تورنوي، چې په ځينو مواردو کې ښـــايي حقيقت هم ولري. خو همدا کسان چې له واکه لرې شي، سبا بيا هماغو ګاونډيانو ته لاس اوږدوي، د هغوی ملاتړ غواړي او د هغوی په مټ د خپلو هېوادوالو پر ضد جګړه کوي. موږ د دوو پېړيو له پرلهپســـې او تکراري تېروتنو هېڅ درس وانهخيســـت. تر کومه به هر اختلاف د جګړې په ډګر کې حل کوو؟ تر کومه به د قدرت لپاره د خپلو خلکو وينې تويوو؟ او همدارنګه تر څو به داسې شرايط برابروو چې نور جګړې ته مخه کړي .آخر د چا آزار وهلي يو چې لا هم د يو بل د وژلو لاره د ستونزو د حل يوازينۍ نسخه بولو؟

هغه ملتونه پرمختګ کوي چې له خپلو تېروتنو زده کړه وکړي، خپل تاريخ په انتقـادي نظر ولولي او راتلونکې پـه عقل، تـدبير او تفـاهم جوړ کړي. خو کـه تېروتنې يوازې تکرار شي، تاريخ به هم هماغه غميزې، هماغه وينې او هماغه دردونه بيا بيا تکراروي.

♧♧♧♧

د فرعون مېرمن هغه مهال ايمان راوړ او د حق لاره يې وټاکله او تغير راوست چې د نړۍ د ستر طاغوت تر سيوري لاندې اوسېده؛ خو د حضرت نوح عليه السلام زوی، د يوه ستر پيغمبر په کور کې د هدايت له ټولو اسبابو سره سره، د حـق مـنـلـو تـه غـاړه کـېـنـښــــوده او لــه تـغـيـر يـې انـکـار وکـړ. **قرآن په همدې دوو بېلګو ســــره دا حقيقت بيانوي چې هدايت او بدلون نه په**

ketabton.com - The Digital Library

**نسب پورې تړلی، نه په چاپېریال او نه په واک او ځواک؛ بلکې د انسان په بصیرت، اخلاص او د حق په منلو پورې تړلی دی.**

دا الهي قانون یوازې د افرادو لپاره نه، بلکې د ملتونو، نظامونو او واکمنانو لپاره هم دی. هېڅ حاکمیت د تېرې بریا، نظامي ځواک، دیني شعار یا نورو شعارونو په برکت تلپاتې نه پاتې کېږي. د هر نظام د بقا راز په دې کې دی چې د عدالت تله برابره وساتي، د خلکو غږ واوري، له خپلو تېروتنو د راګرځېدو جرئت ولري او د وخت له مشروع غوښتنو سره ځان عیار کړي. تاریخ شاهد دی چې ډېر نظامونه د خپلو مخالفینو له امله نه، بلکې د خپلو ناسمو پرېکړو له امله کمزوري او نسکور شوي دي. کله چې واکمن د ولس درد نه اوري، هره نیوکه د دښمنۍ په سترګه ګوري او هره پرېکړه بې له ارزونې سمه ګڼي، نو په حقیقت کې یې د اصلاح ټولې لارې پر ځان تړلې وي. اسلام واکمن ته د معصومیت مقام نه ورکوي؛ بلکې تر ټولو ستر فضیلت یې دا ګڼي چې حق ته غاړه کېږدي او که تېروتنه وکړي، په زړورتیا یې اصلاح کړي. پر غلطۍ اعتراف کمزوري نه، بلکې د عقل، تقوا او مسؤلیت نښه ده. په مقدمه ابن خلدون کې لیکي چې د دولتونو زوال هغه مهال پیلېږي، کله چې واکمنان له ولس څخه واټن ونیسي، عیش او امتیاز ته مخه کړي، عدالت کمزوری شي او د حقیقت پر ځای چاپلوسي واکمنه شي. او همدارنګه شیخ الاسلام ابن تیمییه په مجموع الفتوا کې وایي: إنَّ اللهَ يُقيمُ الدولةَ العادلةَ وإن كانت كافرةً، ولا يُقيمُ الدولةَ الظالمةَ وإن كانت مسلمةً.

الله تعالی عادل دولت ته د بقا زمینه برابروي، که څه هم کافر وي؛ او ظالم دولت ته د بقا فرصت نه ورکوي، که څه هم مسلمان وي. له همدې امله، د یوه عادي انسان تېروتنه ښايي د یوه کور زیان وي، خو د حاکم یوه ناسمه پرېکړه د میلیونونو انسانانو پر ژوند، اقتصاد، امنیت، تعلیم او راتلونکي اغېز کوي. د واکمن هره پرېکړه امانت دی، او د دې امانت حساب یوازې د تاریخ په محکمه کې نه، بلکې د الله تعالی په دربار کې هم کېږي. سبا به دا عذر هېڅ ګټه ونه لري چې: «چاپلوسانو راته همداسې وویل»، «مصلحت همدا و»، «شرایط مجبور کړي وو» یا «هیچا راته حقیقت ونه

ketabton.com - The Digital Library

ویل». ځکه الله تعالی انسان ته عقل، مشوره، بصیرت او د اصلاح فرصت ورکړی دی.

د قرآن ابدي قانون دا دی:

ان اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ
الله تعالی د هیڅ قوم حالت نه بدلوي، تر څو چې هغوی خپل فکر، چلند، پرېکړې او عمل بدل نه کړي. همدا قانون پر افرادو، ملتونو او واکمنانو یو شان تطبیقیږي؛ **ځکه د بقا راز په اصلاح کې دی، نه په اصرار، او د عزت راز په عدالت کې دی، نه په ځواک.**

♧♧♧♧♧

که چېرې د انتقاد او نیوکې فرهنګ عام شي، د وخت په تېرېدو سره د ټولنې د زغم، پوهاوي او قضاوت ظرفیت هم لوړېږي. پوهه لرونکې ټولنه په خپله د ښه او بد، رغنده او ورانوونکي انتقاد ترمنځ توپیر کولای شي. هغه کسان هم پېژني چې یوازې د انتقاد لپاره انتقاد کوي، تعصب او نفرت خپروي او شخصي موخې تعقیبوي؛ او هغه کسان هم ښه پېژني چې نیوکه یې د اصلاح، عدالت، حساب ورکونې او د ټولنې د خیر لپاره وي.

♧♧♧♧

چې د موټرو اوږده قطارونه وي، د معاش تر څنګ بېلابېل امتیازات هم ترلاسه کوي، له یوه کوره څلور ــــ پنځه کسان په دندو ګمارل شوي وي، میلیونونه په شخصي تشریفاتو او منظرو لګول کېږي، د قراردادونو واګې هم د همدوی په لاس کې وي، او د کانونو له عوایدو څخه هم ښــکاره او پټې ونډې اخلي. ودونه په درې او څلورو رسېږي، او د کابل او ولایتونو په لوکسو هوټلونو کې ورته ځانګړې او مجللې ولیمې جوړېږي. خو بل لور ته د غربت ناورین ورځ تر بلې پراخېږي، تر دې چې ډېر خلک یې د ژوند او مرګ تر پولې رسولي دي. بېکاري دومره زیاته شوې چې ګڼې کورنۍ د ورځې یوه مړۍ ډوډۍ هم نه شي پیدا کولای.

ketabton.com - The Digital Library

له نړۍ سره د هېواد انزوا پنځم کال ته داخله شوې، خو بیا هم ځیني دا وضعیت مطلوب او ایډیال ګڼي. په همدې حال کې د نوي بحران او احتمالي جګړې نښې هم ورو ـ ورو راڅرګندېږي.

ملت چیغې او فریادونه کوي، خو لا هم د نجونو د ښوونځیو او پوهنتونونو دروازې تړلې دي، انحصار دوام لري او د ولس ستونزې لا هم پر خپل ځای پاتې دي.

کله چې څوک په ډېر ادب، اخلاص او د خیرخواهۍ په نیت نصیحت، تذکر یا نیوکه وکړي، ځیني پرې خوابدي کېږي او ورته وایي چې نظام تخریبوي یا د دین مخالفت کوي.

همدارنګه، کله چې د اوسنیو ناخوالو یادونه وشي، سمدستي ویل کېږي: «په جمهوریت کې هم همدا کارونه کېدل.» هو، په جمهوریت کې هم فساد و، غله هم وو او د ولس ډېرې شتمنۍ ضایع شوې؛ خو آیا د هغوی فساد او غلا چا ته دا جواز ورکوي چې نن هم هماغه تېروتنې تکرار شي؟

که د هغه نظام پر ضد مبارزه د یوه پاک، عادل او سپېڅلي نظام د جوړېدو لپاره شوې وه، او هغه نظام فاسد او اجیر بلل کېده، نو ولې نن د خپل ځان د توجیه لپاره هماغه نظام د بېلګې په توګه وړاندې شي؟

**نن خو د سپېڅلي دین او الهي شریعت د پلي کولو دعوه کېږي. نن خو که څوک په خیرخواهۍ ووایي چې ګمارنې دې د وړتیا، تخصص او امانتدارۍ پر بنسټ وشي، ځواب دا وي چې همدا د انبیاوو وارثان ګمارل شوي، او نور بیا په سپکه د سیکولرانو په نوم یاوي.**

قسم په خدای، موږ بد نیت نه لرو؛ قسم په خدای، ستاسو بد نه غواړو؛ قسم په خدای، ستاسو دښمنان نه یو. زموږ یوازینۍ غوښتنه دا ده چې د ملت فریاد واورېدل شي او د خلکو درد ته پام وشي.

د نیمروز د هغه ځوان وروستۍ خبرې د میلیونونو وږو، بېوزلو او کړېدلو افغانانو د ژوند یوه دردونکې انځورګري ده.

ketabton.com - The Digital Library

که څه هم د «الفقرُ كادَ أن يكونَ كُفرًا» جمله د حديث په توګه مشـــهوره ده، له دې سره سره، حقيقت دا دی چې سخت فقر انسان تر داسې فشار لاندې راولي . خپل وطن، کورنۍ او اولادونه پرېښــودو ته هم اړ باســـي. غلا ته مجبوري، فساد او قتلونو ته مجبوروي..

**خو دا ملت بيا هم دومره ايماندار، امانتدار او د وجدان خاوند دی چې د ژوند په وروستيو شېبو کې د نورو خلکو د حقونو يادونه کوي** او د خپلو پورونو د ښــنې غوښــتنه کوي. همدا د دې ولس د ايمان، امانتدارۍ او ژوندي وجدان تر ټولو ښکاره ثبوت دی.

♧♧♧♧♧

وايي : عباسي خليفه هارون الرشيد خپل زامن، امين او مأمون، د علم او ادب د زده‌کړې لپاره استادانو ته سپارلي وو.

يوه ورځ استاد، پرته له دې چې مأمون کومه تېروتنه کړې وي، هغه په قمچينه وواهه. مأمون هېڅ ونه ويل، خو د هغې بې‌ګناه سزا درد يې په زړه کې خوندي پاتې شو.

کلونه تېر شول، هارون الرشيد وفات شو او مأمون د ورور سره قدرت جګړې وروســته د مسـلمانانو خليفه شــو. د خلافت له ترلاســه کولو وروســته يې خپل پخوانـی اســـتـاد دربـار تـه راوغـوښـــت او تـرې ويـې پـوښـــتـل: «هـغــه ورځ دې ولـې، پـرتــه لــه کـوم جـرم، پــه قـمـچـيـنــه ووهـلـم؟» استاد په موسکا وپوښتل: «لا هم هغه پېښه در په ياد ده؟»

مـأمون وويـل: د مظلوميت درد او د بې‌ګنـاه ســـپکـاوی بـه څرنګـه هېرېږي؟ اسـتاد وويل: همدا مې غوښـتل چې زده يې کړې. زه پوهېدم چې ته به يوه ورځ د مسلمانانو امير شې. غوښتل مې په عمل در وښيم چې د بې‌ګناه انسان پر بدن د قمچينې نښـــه ښـــايي ورکه شـــي، خو د ظلم نښـــه يې له زړه او حافظې نه ورکېږي. هغه څوک چې نن د قدرت پر ګدۍ ناســت وي، بايد پوه شـــي چې د رعيت هره اوښــکه، هره آه او هره بې‌عدالتي د خلکو په زړونو کې ثبتېږي. که

ketabton.com - The Digital Library

د حساب او پوښتنې ورځ راورسېږي، خلک د یوه قمچیني حساب هم غواړي.
**قدرمنو او محترمو ورونو:**

قدرت د انسان تلپاتې ملکرى نه دى؛ عدالت دى چې نومونه ژوندي ساتي. ظلم ښايي د زور په مټ د يوې مودې لپاره پاتې شي، خو هر سپکاوى، هر ناروا چلند او هر بېعدالتي د خلکو په حافظه کې د تخم په څېر کرل کېږي. دا تخم که د انصاف، بخښنې او اصلاح په اوبو خړوب نه شي، يوه ورځ د ولس د قهر، اعتراض او انفجار په بڼه راشنه کېږي. نو واکمنان بايد په ياد ولري چې د خلکو زړونه د تاريخ تر ټولو ستر آرشيف دى؛ نه ظلم پکې ورکېږي او نه د مظلوم آه. هر هغه څوک چې نن د ځواک او چوکي په نشه کې د خلکو عزت تر پښو لاندې کوي، سبا به د همدې خلکو د قضاوت مخې ته ولاړ وي.

♧♧♧♧♧

د امام شافعي رحمه الله څخه د اختلاف آداب زده کړئ!

د امام شافعي رحمه الله يو شاګرد، يونس نومېده. يوه ورځ د درس پر مهال د يوې فقهي مسئلې په اړه د استاد او شاګرد ترمنځ اختلاف رامنځته شو. يونس خپله رأيه څرګنده کړه، خو د بحث له دوام وروسته يې درس نيمګړى پرېښود او کور ته ولاړ.

ماښام چې شو، د يونس د کور دروازه وټکول شوه. کله چې دروازه يې پرانيسته، په حيرانتيا يې وليدل چې امام شافعي رحمه الله پخپله دروازې ته ولاړ دى.
امام شافعي رحمه الله ورته وفرمايل:
**«اى يونسه! زموږ ترمنځ لسګونه داسې خبرې شته چې پرې متفق يو، نو ايا يوازې يوه اختلافي مسئله بايد زموږ ترمنځ ښېلتون راولي؟**
اى يونسه! په هر اختلاف کې د خپل ملګري د ماتولو هڅه مه کوه؛ کله ناکله د زړونو ګټل د مناظرې له بريا ډېر ارزښت لري. د افکارو تبادله او علمي بحث د يو بل د ماتولو لپاره نه، بلکې د حقيقت موندلو لپاره وي.

ketabton.com - The Digital Library

ای یونســـه! هغه ارزښـــتناکې اړیکې مه ورانوئ چې د مینې، احترام او ښـــو خاطرو پر بنسټ مو جوړې کړې دي؛ ځکه یوه ورځ به حتماً د خپلو دوستانو او ملـــــگـــرو اړتـــیـــا درتـــه پـــیـــښـــه شـــــي.

ای یونسه! زه له غلطۍ څخه کرکه لرم، خو له غلطي کوونکي څخه نه. له گناه څخه نفرت وکړه، خو د گناهگار لپاره د اصـــلاح، ښـنـې او رحمت هیله ولره.

ای یونسه! د خبرې پر محتوا نیوکه وکړه، خو د ویونکي عزت، شخصیت او ادب ته زیان مه رسوه. زموږ مبارزه باید د ناروغۍ د له منځه وړلو لپاره وي، نه د ناروغ د له منځه وړلو لپاره.»

♧♧♧♧♧

مصـــر د مړ فرعون له جســد او تاریخي میراث څخه هر کال میلیاردونه ډالر عاید ترلاسه کوي او د خپل اقتصاد، عامه خدمتونو او د خلکو د رفاه لپاره یې کاروي؛ نـه یې څوک عبادت کوي او نـه ورتـه د عقیدت پـه ســـترگـه گوري. بامیان د حضرت عثمان رضـي الله تعالی عنه د خلافت په زمانه کې فتح شو او د اسـلام د لومړنیو فتوحاتو په لښـکرو کې بېشـمېره صـحابه کرام رضــي الله عنهم او تابعین شـــامل وو. له هغه وروســـته پر دې خاوره بېلابېل اســـلامي خلافتونه او حکومتونه تېر شول. د سلطان محمود غزنوي د بتشکنۍ دوره هم راغله؛ خو هغه سـتره مجسـمه، سـره له دې چې د بتشـکنۍ هغه پړاو یې هم ولیـد، د تـاریخ د یوه مـادي میراث پـه توگـه تر نن ورځې پـاتې شــــوه. زموږ ایمـان لـه صـــحـابـهوو لوړ نـه دی، تقوا مو هم لـه هغوی زیـاتـه نـه ده؛ او داسـې فکر هم نه شـو کولای چې صـحابوو رضــي الله عنهم، خدای مه کړه، د رســـول الله صـــلـی الله علیـه وســـلم پـه ســـنتو کې کوتـاهي کړې وي. له بلې خوا، د رسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثته تر نن ورځې پورې، هره سیمه چې د اسلام تر سیوري لاندې راغلې، مسلمانان بېرته د هغو پخوانیو بتانو عبادت تـه نـه دي گرځېدلي. نو دا وېره هم تر ډېره بېځایـه ده چې گواکې پـه افغانسـتان کې به خلک بېرته د زرگونو کلونو پخوانیو ډبرو او مجسـمو عبادت ته وگرځي.

ketabton.com - The Digital Library

خو اصلي خطر او ويره بل ځای دی.
د تېرو بتانو عبادت نن په اسلامي نړۍ کې څوک نه کوي؛ خو مسلمانان له بده مرغه د ژوندو بتانو په جوړولو بوخت دي.
**ژوندی بت تر ډبرين بت ډېر خطرناک دی؛** ځکه ډبره نه فکر لري، نه اراده، نه ژبه او نه د انسانانو د برخليک د بدلولو ځواک. خو کله چې يو انسان د شخصيت‌پرستۍ په پرده کې ..پټ.. شي، د خلکو پر فکر، وجدان او د حقيقت پر معيارونو واک پيدا کوي.
هره دوره خپل ژوندي بتان لري؛ ځينې سياسي مشران وي، ځينې حکمرانان، ځيني مذهبي مشران او ځيني فکري شخصيتونه. ستونزه هغه وخت رامنځته کېږي چې خلک له خپل مشر څخه د دليل، منطق او حق غوښتنه پرېږدي او د خپلې خوښې شخصيت د حق او باطل معيار وګرځوي.

مشرکانو له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د معجزې غوښتنه کوله؛ خو له خپلو بتانو يې د معجزې تمه نه لرله، ځکه پوهېدل چې بتان بې‌وسه او بې‌اختياره دي او بتانو لپاره دلايل لټول نن هم د شخصيت‌پرستۍ يوه عجيبه بڼه رامنځته شوې: ځينې خلک له خپل مشر څخه د دليل غوښتلو پر ځای، د هغه د هرې خبرې لپاره دليل لټوي؛ که خبره يې له حقيقت سره برابره وي که نه، سمه وي که ناسمه، د حق پر بنسټ وي که د شخصي مصلحت پر بنسټ.
دلته حقيقت خپل ځای شخصيت ته سپاري، دليل د وفادارۍ قرباني کېږي او وجدان د شخصيت تر سيوري لاندې خاموشېږي.
د شخصيت تقدس هغه خطرناک پړاو دی چې انسان نور خپل مشر نه ارزوي؛ بلکې خپل معيار د مشر په خوښه تنظيموي. بيا پوښتنه بد ګڼل کېږي، نيوکه خيانت او تخريب، اختلاف دښمني او محاسبه بې‌ادبي بلل کېږي.
همدا ځای دی چې شخصيت له انسانه پورته کېږي او انسان د ژوندي بت تر سيوري لاندې راځي.

نو له مړو ډبرو مه وېرېږې؛ له هغو ژوندو بتانو ووېرېږې چې د انسان عقل، وجدان او د حقيقت د پېژندلو ځواک تر خپلې سيورې لاندې راولي.
ډبرين بت نه عقل لري چې فاسد يې کړي، نه ژبه لري چې خلک وغولوي، نه اراده لري چې سرکشي وکړي او نه قدرت لري چې ځان له پوښتنې او محاسبې

ketabton.com - The Digital Library

پورته وبولي. خو ژوندي بت هغه مهال خطرناک کيږي چې خلک يې له قانون، دليل او حقيقت څخه پورته کړي او هر نظر يې مقدس وګڼي. بت يوازې هغه مجسمه نه ده چې له ډبرې جوړه شوې وي؛ کله ناکله بت يو انسان وي چې نورو انسانانو يې له خپل عقل څخه لوی، له خپل وجدان څخه پاک او له محاسبې څخه پورته مقام جوړ کړی وي. له همدې امله مهمه ده چې په خپل ذهن، سياست او ټولنه کې د ژوندو بتانو د جوړېدو مخه ونيسو.

ځکه د ډبرې بت اوسمهال په اسلامي نړۍ کې مسلمان نه شي غلامولای؛ خو د شخصيت بت کولی شي د انسان فکر غلام کړي. او کله چې فکر غلام شو، انسان لا ژوندی وي؛ خو وجدان يې مړ شوی وي.

♧♧♧♧

د ټولنيز فساد اصلي مسؤليت د چا پر غاړه دی؟ په ټولنيز ژوند کې يوازې د نورو د ملامتولو پر ځای، بايد د خپل مسؤليت په اړه هم له ځانه پوښتنه وکړو.

تېره ورځ مې د يوه کنځل‌مار ټيک‌ټاکر ويډيو ولېده. دا لومړی ځل نه دی چې حکومت ورته تاديبي نصيحت کوي، سزا ورکوي او يا يې عامه فعاليت محدودوي؛ خو دلته يوه بله، تر دې هم مهمه پوښتنه مطرح کيږي: د دغو کنځل‌مارو ميليونونه فالوران څوک دي؟ هغه لسګونه زره کسان چې د دوی لايفونو ته ناست وي، څوک دي؟ **لايکونه، کمنټونه او ګېفټونه څوک ورکوي؟**

ويډيوګانې يې څوک شريکوي او وايرالوي؟

دوی له چا څخه پيسې ګټي؟

او تر ټولو مهمه دا چې څوک دوی ته دا احساس ورکوي چې هره سپکاوي، هره کنځله او هره بې‌ادبي يې د شهرت او بريا وسيله ده؟ حقيقت دا دی چې دوی له اسمانه راکوز شوي مخلوقات نه دي. د همدې ټولنې له منځه راوتلي، د همدې ټولنې په ارزښتونو کې لوی شوي او د همدې ټولنې

ketabton.com - The Digital Library

له توجه، ستاينې او ملاتړ څخه ځواک اخلي. جناب حاجي صاحب! د دوی فالور کې ته هم شامل يې.

**جناب مشر او کشر! ته هم پکې يې.**

پلار، ورور او د کورنۍ غړی! تاسو هم د دې ټولنيزې فضا يوه برخه يې. مورږ بايد دا حقيقت ومنو چې ټولنيزې رسنۍ يوازې د افرادو شخصيت نه منعکسوي؛ د ټولنې شعور، ذوق، ارزښتونه او اخلاقي حالت هم پکې ځان ښکاره کوي.

کله چې بې‌ادبي بازار ولري، بې‌حيايي ليدونکي ولري، کنځل شهرت راوړي او سپکاوی عايد جوړ کړي، نو ستونزه يوازې په هغه کس کې نه ده چې کنځلې کوي؛ ستونزه په هغه چاپيريال کې هم ده چې هغه ته د کنځلو لپاره بازار، مخاطب او انعام برابروي.

که ته پخپله هغه محتوا تعقيبوې، ساعتونه ورته ناست يې، لايک او کمنټ ورکوې، ويډيو يې شريکوې او د هغه د شهرت په پراخولو کې برخه اخلې؛ نو **مه هېروه چې ستا اولاد هم دا صحنه ويني، ستا ذوق زده کوي او ستا انتخابونه د هغه د شخصيت په جوړېدو کې خاموشه روزنه ده. بيا که يوه ورځ د خپل اولاد له بې‌لارۍ شکايت کوې، بايد لومړی له ځانه وپوښتې:**

ما د هغه د فکر لپاره کومه نړۍ جوړه کړې ده؟

ما هغه ته څه ښودلي؟

ما د څه شي ستاينه کړې او د څه شي لپاره مې لاسونه پړکولي دي؟ حکومت کولای شي يو کس مجازات کړي، حساب ترې وغواړي او د هغه عامه فعاليت محدود کړي؛ خو حکومت ستا د کور دروازه نه شي ساتلای. ستا د اولاد د موبايل پرده نه شي څارلای. ستا د کورنۍ ارزښتونه نه شي روزلای او ستا پر ځای ستا د اولاد فکر نه شي جوړولای. د دې مسؤليت تر ټولو ستره برخه ستا پر غاړه ده. قانون د ټولنيز نظم د ساتنې لپاره اړين دی، خو قانون د اخلاقو بديل نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

پولیس د جرم مخه نیولای شي، خو د انسان وجدان نه شي جوړولای. محکمه سزا ورکولای شي، خو کورنۍ هغه شخصیت جوړوي چې انسان یې د سزا له وېرې پرته هم د بد کار له کولو منع کوي. له همدې امله، که غواړو ټولنه مو له کنځلو، سپکاوي، بېادبۍ، ابتذال او اخلاقي زوال څخه وژغورل شي، نو د اصلاح ټول مسؤلیت یوازې پر حکومت مه اچوئ. اصلاح باید له ځانه پیل شي، له کورنۍ تېر شي او تر ټولنې ورسېږي. هر لایک یو انتخاب دی، هر کمنټ یو پیغام دی، هر فالو یو ملاتړ دی او هر شریکول د یوه فرهنګ په جوړولو کې یوه وړه ونډه ده.

موږ ډېر وخت پوښتنه کوو چې:

حکومت ولې دا خلک نه نیسي؟

لیکن تر دې مخکې باید له ځانه وپوښتو:

**موږ ولې دا خلک ستوري کړي دي؟**

د ټولنې اصلاح د قانون له دروازې وړاندې، د کور له دروازې پیلېږي؛ او د هر کور د دروازې کیلي د هماغه کور له مشر سره ده.

♧♧♧♧♧

یو ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابوو ته وویل:

د ورونو د دیدار او ملاقات خواهش لرم..

بیا یي وویل هغه ورونه چې زما مړیني وروسته تر قیامته په ما ایمان راوړي.. رسول الله صلی الله علیه وسلم دلته د ودتت لفظ استعمال کړي یعنې د راتلونکي مسلمانانو سره د لیدلو ، ناستو او خبرو هیله او اشتیاق لرم.... درود پري وویاست ، یا رسول الله مونږ هم اشتیاق لرو... غواړو چې ډیر درته وژاړو...

یادونه:

ketabton.com - The Digital Library

ویل کیږي نن د ملګرتیا او دوستي ورځ ده، آیا داسې دوستي او محبت مو کله لیدلې لکه محبوب چې تاسو پسې خفه وي او ستاسو ملاقات غوښتنه لرله..
صلی الله علیه وسلم

♧♧♧♧♧

ما ته تل ویل کېږي چې حضرت یوسف علیه السلام ډېر ښکلی، زړه راښکونکی او د حسن بې‌ساری ځښتن و؛ خو ډېر کم څوک راته وایي چې هغه په خپل هېواد کې څنګه یو ستر زراعتي او اقتصادي انقلاب رامنځته کړ. د هغه د هوښیارانه زراعتي او اقتصادي مدیریت له برکته، د اوو کلونو سختې قحطۍ پر مهال یو انسان هم د لوږې له امله مړ نه شو.
تل راته وایي چې حضرت سلیمان علیه السلام دومره ستره پاچاهي لرله چې پر انسانانو، پېریانو، مرغانو او حیواناتو یې واکمني کوله او تخت یې په هوا ګرځېده؛ خو ډېر کم څوک د هغه د سیاسي بصیرت، اقتصادي تدبیر او حکومتي مدیریت یادونه کوي. هغه داسې قوي اقتصادي بنسټونه جوړ کړل چې د یمن له ملکې بلقیس سره یې د متقابل تفاهم او همکاریو له لارې په سیمه کې د کرنې او سوداګرۍ پراخ فرصتونه رامنځته شول او اقتصادي هوساینه یې تر اوږدې مودې پورې بې‌سارې شوه.

**په وعظونو کې راته ویل کېږي چې د رسول الله ﷺ زلفې مبارکې داسې وې، وېښتان یې داسې وو، او د هغه د مبارک مخ په اړه د ﴿وَالضُّحَى﴾ یادونه کېږي؛ خو ډېر لږ د هغه ستر فکري، ټولنیز او تمدني انقلاب ته اشاره کېږي. هغه په داسې ټولنه کې، چې فقر، قتل، غارت، غلا، جهالت، فساد او لوټمار یکې عادي او د ویاړ سبب ګڼل کېدل، داسې هر اړخیز بدلون راوست چې نه یوازې د دین او اخلاقو لوړ معیارونه ټینګ شول، بلکې اقتصادي عدالت هم رامنځته شو. داسې وخت راغی چې د زکات او صدقاتو ورکوونکي په سلګونو زره وو، خو د اخیستونکو موندل ګران وو.**

هغه مهال نړۍ په دوو سترو امپراتوریو، د روم او فارس، وېشل شوې وه او میلیونونه انسانان د ظلم، استبداد او بې‌عدالتۍ تر سیوري لاندې ژوند کول؛ خو

ketabton.com - The Digital Library

د اسلام د عدل، قانون او انساني کرامت په برکت داسې نظام رامنځته شو چې د انسان د سپکاوي او حقونو د تر پښو لاندې کولو مخه يې ونيوله.

زه د انبياوو عليهم السلام د کردار، فکر، تدبير او عملي مبارزې پېژندنې ته اړتيا لرم، ځکه زما په ټولنه کې لا هم قيامتخېز ظلم، استبداد او فساد روان دی. انسانيت لا هم زموږ په محکمو او درباورنو کې سوځي، د انسان عزت لا هم د معاملې توکي ګرځېدلی، خلک لا هم د مذهب په نوم وژل کېږي، جهالت لا هم د بازار تر ټولو ګرم توکی دی، او د انسانيت له وجوده لا هم د بېوزلو وينې او اوښکې څاڅي.

څه شوه د حضرت عيسی عليه السلام د سولې، رحمت او له تاوتريخوالي څخه د ډډې کولو حکمت؟

څه شوه د حضرت موسی عليه السلام د فرعون پر وړاندې د آزادۍ هغه مبارزه چې پرته له وينې تويولو د ظلم د ماتولو لپاره يې د الله تعالی په مرسته خپل قوم له اسارت څخه وژغوره؟

**موږ د انبياوو عليهم السلام د کردار، فکر، عدالت، مديريت او تمدنسازۍ لارې پېژندلو ته اړتيا لرو.** د انسانيت تر ټولو ستر ارزښتونه د انبياوو په سيرت او عملي ژوند کې نغښتي دي. موږ پوهې ته اړتيا لرو.

♧♧♧♧

حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه يو وخت د غصې په حالت کې حضرت بلال رضي الله عنه ته وويل:

ای د تورې مور زويه!

دا يوه لنډه جمله وه، خو د يوه مؤمن زړه يې ټپي کړ. حضرت بلال رضي الله عنه سترګې له اوښکو ډکې شوې او ويې ويل: زه به دا خبره رسول الله ﷺ ته ورسوم. کله چې دا خبره د رحمة للعالمين ﷺ حضور ته ورسېده، د رسول الله ﷺ د

ketabton.com - The Digital Library

مبارک مخ رنګ د غصې له امله بدل شو. بیا یې حضرت ابوذر رضي الله عنه ته وفرمایل:

**ایا تا بلال ته د هغه د مور د رنګ پیغور ورکړ؟ تا د هغه سپکاوی وکړ. په تا کې لا هم د جاهلیت نښې پاتې دي.**

دا جمله د حضرت ابوذر رضي الله عنه پر زړه د تندر په څېر ولګېده. هغه پوه شو چې یوه بې‌احتیاطه خبره انسان د جاهلیت تر پولې رسولای شي. په ژړا یې وویل:

یا رسول الله! زما لپاره د الله تعالی څخه د بښنې دعا وکړه.

بیا بې له ځنډه د حضرت بلال رضي الله عنه کور ته په منډه روان شو. چې ورسېد، خپل مخ یې پر خاورو کېښود او په ژړغوني غږ یې وویل:

په الله تعالی قسم! تر هغه به خپل مخ له ځمکې پورته نه کړم، څو چې بلال خپلې پښې زما پر مخ نه وي ایښې. ای بلاله! نن ته عزتمند یې او ابوذر ذلیل دی.

**خو د ایمان روزنه همداسې وي...**

حضرت بلال رضي الله عنه سمدستي هغه پورته کړ، مخ یې ښکل کړ او ویې ویل:

زه څنګه کولای شم پر هغه مخ پښه کېږدم چې الله تعالی ته یې سجده کړې ده؟ بیا دواړه یو بل ته په غېږه شول، دواړو وژړل، دواړو یو بل وبابښه، او دواړو ثابته کړه چې د اسلام عظمت د انسان په رنګ، نسل، قوم او ژبه نه، بلکې په تقوا، عاجزۍ او د حق په منلو کې دی. نن که لږ هم خپل حالت ته وګورو، نو له دې پېښې سره د خپل ژوند واټن به ډېر لوی ووینو.

موږ څومره په اسانۍ د یو بل سپکاوی کوو. کله د خپلې مذهبي فرقې په نوم...

کله د خپلې سیاسي ډلې په خاطر...

ketabton.com - The Digital Library

کله د قوم، قبیلې، ژبې او سیمې په تعصب...

کله د رنګ او نسل په غرور...

کله د خپل شیخ، پیر او مشر د دفاع په پلمه...

او کله د ټولنیزو رسنیو د پوسټونو او تبصرو په ډګر کې، داسې الفاظ کاروو چې د یو مسلمان عزت تر پښو لاندې کوي.
تر دې هم دردناکه دا ده چې ډېر وخت خپل ځان د حق وروستی معیار ګڼو؛ داسې انګېرو چې ګواکې الله تعالی یوازې موږ ته د تقوا سند راکړی، جنت یوازې زموږ په نوم لیکل شوی او نور ټول د خطا پر لار روان دي.
حال دا چې رسول الله ﷺ د یوه لفظ له امله خپل دومره ستر صحابي ته وفرمایل:

**په تا کې لا هم د جاهلیت نښې شته.**

نو موږ چې هره ورځ د خلکو عزتونه لوټوو، زړونه ماتوو، تهمتونه لګوو، سپکاوی کوو او د مسلمان ورور شخصیت تر پښو لاندې کوو، ایا کله مو فکر کړی چې زموږ حالت به د الله تعالی په وړاندې څنګه وي؟
له بده مرغه، زموږ په ژوند کې ډېر کم داسې وخت راځي چې ووایو:
هو! ما تېروتنه کړې ده.

وروره! ما وبښه.

همدا څو کلمې د ډېرو زړونو مات والي رغولای شي، د ډېرو دښمنیو اور مړ کولای شي او د الله تعالی رضا ترلاسه کولای شي.
الله تعالی دې تر هر چا مخکې ماته توفیق راکړي چې خپل نفس اصلاح کړم، له تکبر، تعصب او سپکاوي څخه ځان وساتم، د خپلې تېروتنې اعتراف وکړم او له خلکو بښنه وغواړم.

او بیا دې ټول امت او په ځانګړي ډول زموږ افغانانو ته هغه اخلاق ور په برخه کړي چې رسول الله ﷺ خپلو اصحابو ته ورزده کړي وو.
اللهم أصلح قلوبنا، وطهر ألسنتنا، واجعلنا من المتواضعین، واجنبنا الکبر والعصبیة والظلم. آمین.

ketabton.com - The Digital Library

♧♧♧♧♧

د تېرو پنځوسو کلونو سیاسي تجربې یو نه انکارېدونکی حقیقت ثابت کړی دی: هر څوک چې ارګ ته رسېدلي، د بهرنیو ستراتیژیکو سیمیزو دښمنانو د خطر په عمیق درک کې یې ناڅاپه سیاسي شعور راویښ شوی، خو په عین وخت کې یې د خپل نظام هغه داخلي عمیقي او ښکاره کمزورۍ، نیمګړتیاوې او د حکومتولۍ خامیانې له پامه غورځولي چې د هر بهرني دښمن تر پوځ، استخباراتو او فشارونو څو برابره ستر او خطرناک ګواښونه دي.
د دولتونو د بقا په فلسفه کې یو اصل دی: بهرنی دښمن د سقوط علت نه وي، بلکې د داخلي زوال له فرصت څخه ګټه اخلي. کله چې عدالت کمزوری شي، واک انحصاري شي، قانون تر اشخاصو قرباني شي، د خلکو غږ وا نهورېدل شي، اداري فساد پراخ شي، وړتیا د وفادارۍ قرباني شي او د ملت او نظام ترمنځ د باور اړیکه زیانمنه شي، نو په حقیقت کې همدغه عوامل د بهرني نفوذ لپاره هغه ستراتیژیکې دروازې پرانیزي چې هېڅ بهرنی ځواک یې په زور نه شي پرانیستلای.

د تاریخ په اوږدو کې هېڅ ستر قدرت ونه توانېد چې یو متحد، عادل او د خپل ولس پر ملاتړ ولاړ نظام له بهر څخه مات کړي. برعکس، ټول هغه نظامونه چې نسکور شوي، لومړی یې له دننه سیاسي، اخلاقي او اداري زوال پیل شوی او بهرنیو قدرتونو یوازې د همدې داخلي کمزوریو له فرصت څخه استفاده کړې ده.

**علامه ابن خلدون رحمه الله همدې حقیقت ته اشاره کوي چې د دولتونو د زوال تخمونه د هغوی د ځواک په اوج کې د هغوی په خپل چلند کې کرل کیږي، نه د دښمن په لاس.**

له بده مرغه، زموږ د معاصر تاریخ ډېری واکمنان همدا ستراتیژیک اصل له پامه غورځوي. واک ته له رسېدو سره سم د بهرنیو قدرتونو د مشروعیت، رسمیت، تعامل او ملاتړ ترلاسه کول خپله لومړنۍ سیاسي موخه ګرځوي، خو د خپل ملت د رضایت، اعتماد او سیاسي مشروعیت ارزښت ثانوي ګڼي. آن تر دې چې کله ناکله تر ټولو لومړۍ سیاسي دښمني له خپل ولس سره پیلوي؛ پر

ketabton.com - The Digital Library

نیوکې دښمني، پر اختلاف شک او حتي سالمو مشورو ته هم د ګواښ په سترګه ګوري. حال دا چې مشـــروعیت لـه ولس څخه زېږي، نـه لـه بهرنیو پلازمېنو. بهرنی رسمیت کولای شي یوه دروازه پرانیزي، خو هېڅکله د نظام د بقا ستن نه شي کېدای.

یواځیني فیلســوف مـاکیـاولي د ځواک د ســـیاســـت نظریـه وړانـدې کړې هغه هم خبرداری ورکوي چې هغه واکمن چې د خپل ولس ملاتړ لـه لاســـه ورکړي، د بهرنیو متحدینو په مټ نه شـــي پاتې کېدای. ځکه بهرني ائتلافونه د ګټو تـابع وي، خو ملت د هویت، خـاورې او راتلونکي تـابع وي. کلـه چې د دواړو ترمنځ انتخاب راشـــي، بهرنی متحد خپله ګټه ســـاتي، نه ســـتا نظام. له همدې امله، د هر نظام تر ټولو ستراتیژیکه تېروتنه دا ده چې د امنیت تعریف یوازې په پوځ، استخباراتو او وسلو پورې محدود کړي. حقیقي امنیت د ملت په رضـایت، عدالت، شفافې حکومتولۍ، حساب ورکونې، ملي مشارکت او د خلکو په باور کې نغښتی دی. پوځ د پولو سـاتنه کوي، خو ملت د نظام ریښـې سـاتي. که ریښې وچې شي، د ونې څانګې په رنګولو نه ژوندۍ کېږي.

تاریخ دا اخطار راکوي چې ملتونو خاموشـــي تل د رضـــایت معنا نه لري. کله ناکله د ولس چوپتیا د نـاامیدۍ، بېباورۍ او د اړیکو د پرې کېدو نښـــه وي، او همدا چوپتیا د هر نظام لپاره تر ښکاره مخالفت هم خطرناکه وي. هغه حکومت چې د خلکو غږ نه اوري، ډېر ژر به د پردیو غږ ته اړ شي.

لنډه دا چې بهرنی دښمن یوازې هغه وخت خطرناک کېږي چې داخلي کمزورۍ ورته لاره هواره کړي. هر څومره چې یو نظام په عدالت، ملي یووالي، قانون، حســـاب ورکونه او د ولس په اعتماد کې پیاوړی وي، هماغومره د بهرني نفوذ پر وړاندې نه ماتېدونکی وي. خو که د ملت او نظام ترمنځ د باور پل ونړېږي، بیا د بهرني دښمن د بریا لپاره توپونه او لښکرونه نه، بلکې همدغه داخلي تشې او سیاسي غرور بسنه کوي.

♧♧♧♧

له سیاسي پلوه، افغانستان نن د خپل معاصر تاریخ په داسې حساسې څلورلارې کې ولاړ دی چې د فرصتونو او خطرونو ترمنځ واټن تر بل هر وخت لنډ شوی

ketabton.com - The Digital Library

دی. د دولتونو په ژوند کې ډېر کم داســـې وخت راځي چې امنیت، جغرافیه، طبیعي زېرمې او نړیوال بدلونونه ټول په یوه وخت کې سره یوځای شي. که په همدې شېبه کې سم تصمیم ونیول شي، یو ملت د څو لسیزو مزل په څو کلونو کې وهي؛ خو که دا فرصـــت ضـــایع شـــي، تاوان یې نســـلونه ورکوي. د افغانســـتان د تېرو پنځوســـو کلونو تاریخ یو نه بدلېدونکی حقیقت ثابت کړی: هېڅ حکومت یوازې د ټوپک په زور نه دی پاتې شــوی، او هېڅ نظام یوازې د بهرنیانو په ملاتړ نه دی ژغورل شــوی. شــوروي پلوه نظام، مجاهدین، پخواني امارت او جمهوري نظام هغه وخت کمزوري شـــول چې د دولت او ملت ترمنځ واټن زیات شـــو. تاریخ یو واضـــح پیغام لري: نظامونه هغه وخت نه نســـکورېږي چې دښـــمن یې قوي شـــي، بلکې هغه وخت ســـقوط کوي چې مشـــروعیت، ســـیاســـي عقلانیت، تدبیر او د خلکو باور له لاســـه ورکړي. نن د افغانستان تر ټولو ستره شتمني نه لیتیم دی، نه مس، نه طلا او نه طبیعي ګاز؛ بلکې وخت دی. که وخت ضـــایع شـــي، بېرته نه راګرځي. نړۍ د جیوپولیتیک نوې مرحلې ته داخله شوې، سوداګریزې لارې بدلېږي، د انرژۍ معادلې له سره جوړېږي او سیمه‌ییز ائتلافونه نوي تعریفېږي. که افغانستان لا هم د کورنیو سیاسي محدودیتونو او نړیوالې انزوا په کړۍ کې بند پاتې شي، د تـاریخ تر ټولو ســـتر فرصـــت بـه پـه خپلو لاســـونو لـه منځـه یوســـي. د افغانستان جغرافیه یوازې د نقشې یوه ټوټه نه ده، بلکې ستراتیژیکه خزانه ده. دا هېواد د مرکزي آســـیا، جنوبي آســـیا، منځني ختیځ او چین ترمنځ د وصـــل اصـلي دروازه ده او کولی شـي د سـیمې د سـوداګرۍ، ترانزیټ او انرژۍ مهم مرکز شـــي. خو جغرافیه په خپله معجزه نه کوي؛ که ورســره قوي ســیاســت، هوښـــیاره ډیپلوماســـي او اقتصـــادي لیدلوری نه وي، همدا امتیاز په دروند بار بدلېږي.

ځکه د افغانستان اصلي ستونزه یوازې امنیت نه دی، بلکې دا ده چې له امنیت څخه څنګه ګټه اخیســتل کېږي. اصـــلي ازموینه دا نه ده چې واک د چا په لاس کې دی؛ اصـــلي ازموینه دا ده چې ایا دا امنیت او واک په اقتصـــاد، صـــنعت، تعلیم، پانګونه، نړیوال تعامل او قوي بنســـټونو بدلېږي که نه. امنیت هغه وخت ارزښت لري چې د خلکو ژوند ورسره ښه شي. خاموشه فضا، که له پرمختګ،

ketabton.com - The Digital Library

عدالت او فرصتونو تشه وي، د ثبات ضمانت نه، بلکې د راتلونکو ستونزو پټول دي.

یو بل حقیقت هم باید هېر نه شي: **د ملت خاموشي تر ټولو لوی خطر دی.** کله چې خلک د امید پر ځای چوپتیا، د ګډون پر ځای بېپروايي او د راتلونکي پر ځای ناهیلي غوره کړي، دا د هر نظام لپاره د خطر زنګ دی. ملت هغه وخت نه کمزوری کیږي چې خبرې وکړي؛ ملت هغه وخت کمزوری کیږي چې نور د خبرو، فکر او بدلون هیله له لاسه ورکړي. ظاهري سکون تل د رضایت معنا نه لري؛ ډېر ځله دا د ستړیا، ناهیلۍ او بېوسۍ نښه وي، او همدا خاموشي د هر دولت لپاره تر ښکاره مخالفت ډېره خطرناکه ده. نړیوال رسمیت یوازې یو سیاسي عنوان نه دی؛ دا د اقتصاد، بانکدارۍ، پانګونې، ټکنالوژۍ او نړیوال مالي نظام دروازه ده. که یو هېواد له نړیوال اقتصادي نظام څخه بهر پاتې شي، طبیعي زېرمې به یې یواځې خام مواد وي، ځوانان به یې مهاجرت کوي، پانګه به تښتي او فرصتونه به نورو ته انتقالیږي. نړۍ د هېچا انتظار نه باسي؛ څوک چې ناوخته راورسیږي، بازار، مسیر او فرصتونه به تری مخکې ونیول شوي وي. په کور دننه هم تاریخ د انحصار په اړه سخت قضاوت لري. هر کله چې واک د یوې محدودې حلقې یا یوه فکر په چوکاټ کې بند شوی، د دولت او ملت ترمنځ واټن زیات شوی او د سیاسي مشارکت پر ځای د تقابل دروازې پرانیستل شوې دي. هوښیار دولتونه له مخالف نظر نه وېرېږي؛ مخالف فکر د اصلاح او ملي ځواک برخه ګرځوي، ځکه ملتونه په زور نه، بلکې په عدالت، باور او مشارکت متحدیږي.

که د هېواد په شمال کې دوامداره بېثباتي رامنځته شي، دا به یوازې د څو ولایتونو ستونزه نه وي. شمال د افغانستان د اقتصاد د ساه اخیستلو لاره او د منځنۍ آسیا د انرژۍ، رېل پټلۍ او سوداګرۍ اصلي دروازه ده. هره ناامني به نه یوازې امنیتي لګښتونه لوړ کړي، بلکې د سیمې هېوادونه به بدیلو لارو ته اړ کړي. په نړیوال اقتصاد کې تش ځای نه پاتې کیږي؛ که افغانستان خپل رول ونه لوبوي، بل څوک به یې ولوبوي. د دولتونو په ژوند کې تر ټولو خطرناک حالت ښکاره جګړه نه وي، بلکې هغه

ketabton.com - The Digital Library

وخت وي چې ستراتيژيک فرصتونه په خاموشۍ له لاسه وځي، خلک خاموش وي، پانګه وځي، ځوانان مهاجرت کوي، نړۍ بدلېږي، خو مشـرتابه لا هم فکر کوي چې وخت ورسره ولاړ دی. تاريخ ښيي چې ډېر دولتونه د جګړې په ډګر کې نه، بلکې د غلطو تصــميمونو، د وخت د ناســم درک او د ضـــايع شـــويو فرصتونو له امله مات شوي دي.

اصلي پوښتنه دا ده چې ايا اوسنی امنيت به په اقتصادي ځواک، نړيوال تعامل، ملي باور، قوي بنسټونو او سيمه‌ييز اتصال بدل شي، که د تاريخ د نورو ضايع شـــويو فرصـــتونو په څېر به يوازې يو لنډمهالی ثبات پاتې شـــي. ملتونه په شـــعارونو، احســـاســـاتو او موقتي برياوو نه بدلېږي؛ ملتونه هغه وخت خپل برخليک بدلوي چې د وخت ارزښـــت وپېژني، لـه تـاريخ زده کړه وکړي او زړور، واقعبينانه او ســتراتيژيک تصــميمونه ونيســي. تاريخ د هېچا انتظار نه کوي؛ **ځوک چې د زماني له کاروانه وروستـه پاتې شـي، تاريخ يې نه ښنـي، بلکې د عبرت په پاڼو کې يې ثبتوي.**

♧♧♧♧♧

دوه مياشـــتې وړاندې د هند د ســـترې محکمې رئيس د ځوانانو په اړه وويل: «اوســـني ځوانـان د کـاکروچـانو پـه څېر دي، هرې خوا تـه خواره دي.» په کاناډا کې مېشــت يوه هندي ځوان د همدې خبرې په غبرګون کې د کاکروچ يو انځور د خپل ســمبول په توګه وټاکه، په ټولنيزو رســنيو کې يې يو حســاب جوړ کړ او د «کاکروچ جنتا پارټۍ» په نوم يې کمپاين پيل کړ. يوازې په يوه ورځ کې يې ميليونونه پلويان پيدا کړل او د ســـترې محکمې د رئيس پر ضـــد پراخ کمپاين روان شـو. د خلکو نيوکه دا وه چې د ځوانانو د ســپکاوي پر ځای بايد هغوی ته د کار، تعليم او اســانتياوو زمينه برابره شــي. که څه هم د ســترې محکمې رئيس وروسته خپلې خبرې سپينې کړې، خو د ځوانانو غوسه لا پسې زياته شوه.

حکومت هڅه وکړه چې دغه حساب وتړي، خو هر ځل به چې يو حسـاب تړل کېده، ســـملاســـي به بل جوړېده او په څو ورځو کې به يې بيا ميليونونه پلويان راټولول.

ketabton.com - The Digital Library

وروسته هماغه ځوان له کاناډا څخه هند ته ستون شو او د «کاکروچ جنتا پارټۍ» فعالیتونه یې په مستقیم ډول پیل کړل. څه موده وروسته د طب د کانکور ازموینې پوښتنلیک افشا شو. د دې بې‌عدالتۍ او ناهیلۍ له امله تر شلو زیات ځوانانو ځانونه ووژل. «کاکروچ جنتا پارټۍ» د دې پېښې پر ضد پراخ لاریونونه پیل کړل، چې ورو ورو د هند ډېرو ایالتونو ته وغځېدل. د اپوزیسیون ګوندونو هم د دغو اعتراضونو ملاتړ اعلان کړ. په لومړي سر کې حکومت د زور له لارې د اعتراضونو د مهارولو هڅه وکړه، خو چې بریالی نه شو، تبلیغات یې پیل کړل او دا یې د «بهرنیو لاسونو» توطئه وبلله. خو دا دریځ هم اغېزناک نه و.

اعتراضونه ورځ تر بلې پراخېدل، تر دې چې حکومت اړ شو د کانکور د قضیې ګڼ مسؤلین ونیسي. لومړي وزیر نریندرا مودي ملت ته وینا وکړه، خو وضعیت بدل نه شو.

په پای کې حکومت د «کاکروچ جنتا پارټۍ» ډېری غوښتنې ومنلې، د تعلیم وزیر یې استعفا ورکړه او دا یې هم اعلان کړه چې د هغو ځوانانو د هرې کورنۍ سره به لس ـــ لس میلیونه هندي کلدارې مالي مرسته کوي. د راپورونو له مخې، لا هم د ځینو نورو غوښتنو په اړه خبرې اترې روانې دي.

**الغرض، ډېر ځله واکمنان داسې انګېري چې هر څه سم روان دي، خو کله ناکله د هغوی غرور او تکبر الله تعالی له داسې لارې ماتوي چې نه یې اټکل کوي او نه یې په تصور کې راځي.**

♧♧♧♧♧

روایت دی چې مشهور عالم امام اصمعي رحمه الله د الله تعالی کور ته د حج لپاره مکې مکرمې روان و. په لاره کې یو لارشکوونکی پرې راووت او ورته یې وویل:

ودرېږه! ته څوک یې؟

اصمعي رحمه الله وایي ما ورته وویل: اصمعي مې نوم دی او د الله تعالی کور ته د حج لپاره روان یم.

ketabton.com - The Digital Library

لارشکوونکي راځخه وپوښتل: څه کار کوې؟

اصمعي رحمه الله : د مسلمانانو ماشومانو ته قرآن کريم ورزده کوم او حفظ يې ورسره کوم.

لارشکوونکی راته متوجه شو او وويل: نو ماته هم له قرآنه څه ولوله!

اصمعي رحمه الله وايي: ما ورته دا آيت تلاوت کړ:

وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ

او ستاسو روزي په آسمان کې ده، او هغه څه هم چې له تاسو سره يې وعده شوې ده.

اصمعي زياتوي چې ما د آيت مفهوم هم ورته بيان کړ.

لارشکوونکی يوه شيبه آرام شو، بيا يي په حيرانتيا وويل: ايا دا آيت هم په قرآن کې شته؟

بيا يې خپل خنجر او چاړه پر ځمکه وغورځول او ويې ويل:

که زما روزي په آسمان کې تضمين شوې ده، نو زه ولې په ځمکه کې د الله تعالی نافرماني وکړم او د خلکو مالونه لوټ کړم؟

بيا يې وويل:

اې ربه! له نن وروسته به هېڅکله ستا نافرماني ونه کړم!

اصمعي رحمه الله وايي: ما خپل سفر ته دوام ورکړ او د الله تعالی د کور پر لور روان شوم.

څه موده وروسته، يوه شپه مې چې د بيت الله شريف طواف کاوه، يو سړی مې وليد چې د کعبې شريفې له يوه رکن سره يې ځان نښلولی و. په ژړا او سلګيو کې ډوب و او له الله تعالی سره يې په عاجزۍ داسې مناجات کاوه:

اې زما ربه! که زما توبه دې قبوله کړې وي، نو زه به پرې خپل ځان مبارک او خوشحاله کړم؛ او که دې رد کړې وي، نو خپل ځان به پرې تسلي کړم. زه

ketabton.com - The Digital Library

ستا په دربار کې ولاړ یم، ستا په رحمت کې پناه اخلم؛ نو له خپل دره مې مه شړه!

اصمعي رحمه الله وايي: د هغه سړي د اخلاص او عاجزۍ له حاله ډېر اغېزمن شوم او په زړه کې مې دا هیله پیدا شوه چې کاشکې د الله تعالی په وړاندې د دغه سړي په څېر دومره مخلص وای.

کله چې ورنږدې شوم، شکل يې يو څه آشنا وه او پړي شکي شوم. بيا مې ترې پوښتنه وکړه:

ايا ته هماغه لارشکوونکی يې؟

هغه وويل: هو، زه هماغه يم.

اصمعي رحمه الله زياتوي چې ما بيا ترې پوښتنه وکړه او ورته مې وويل:

ايا ته هماغه سړی يې چې ما درته دا آيت تلاوت کړی و:

وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ؟

هغه وويل: هو، هماغه يم.

اصمعي وايي: هغه سړي راڅخه بيا غوښتنه وکړه او وويل:

يو ځل بيا راته قرآن کريم ولوله.

اصمعي رحمه الله وايي: ما ورته دا ځل دا آيت تلاوت کړ:

فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ مِثْلَ مَا أَنَّكُمْ تَنْطِقُونَ

نو د اسمان او ځمکې پر رب مې دې قسم وي، چې دا خبره بالکل حقه ده؛ لکه څنګه چې تاسو خبرې کوئ.

کله چې سړي دغه آيت واورېد، رنګ يې والوت، سخت خفه شو او په ژړا شو او ويې ويل:

هغه څوک دی چې زما جليل ذات يې دومره په غوسه کړی، چې په خپل ذات يې قسم خوړلی؟

ketabton.com - The Digital Library

لا څو شېبې نه وې تېرې چې راپرېوت او د هغه روح له بدن څخه ووت او خپل رب لوري ته ورغی.

اصمعي رحمه الله زياتوي چې څو موده وروسته مې هغه سړی په خوب کې وليد. پوښتنه مې ترې وکړه:

له خپل رب سره تر ملاقات وروسته دې حال څنګه شو؟

هغه راته په خوب کې دغه آيت تلاوت کړ:

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنَّاتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا

بېشکه هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی او نېک عملونه يې کړي، د فردوس جنتونه د مېلمه‌پالنې ځايونه دي.

سبحان الله!

**قدرمنو او محترمو ورونو!**

هغه ذات څومره مهربان دی چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي، ګناهونه بښي او د هغوی له ټولو کړنو خبر دی.

وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَعْفُو عَنِ السَّيِّئَاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ

📖 سرچينه:

الإبهاج في شرح المنهاج، د امام تقي الدين السبکي رحمه الله اثر.

♧♧♧♧

په ژوند کې دوه هغه خبرې دي چې انسان تر ټولو ډېر پرې انديښمن وي: عمر او رزق.

د الله تعالی له ځانګړو رحمتونو څخه يو دا دی چې دا دواړه يې له موږ پټ ساتلي دي

وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ

ketabton.com - The Digital Library

او هېڅ انسان نه پوهېږي چې سبا به څه ترلاسه کوي، او نه پوهېږي چې په کومه ځمکه کې به مري.

نو خپل ژوند په ډاډ او اطمینان تېر کړئ، خپل ټول کارونه الله تعالی ته وسپارئ او پر هغه توکل وکړئ. د الله تعالی د احکامو ساتنه وکړئ، هغه به ستاسو ساتنه وکړي.

خپل زړه له بېځایه اندېښنو څخه خلاص کړئ؛ ځکه څه چې ستاسو په برخه کې لیکل شوي، خامخا به دررسي، او څه چې ستاسو لپاره نه دي لیکل شوي، هېڅکله به مو برخه نه شي.

**زړه مو ډاډه وساتئ، پر الله باور وکړئ او ژوند په سکون تېر کړئ.**

♧♧♧♧♧

غوښتل مې د ښځې د ،،ناقص العقل،، په موضوع لنډ څه ولیکم، خو موضوع دومره پراخه ده چې د یوې اوږدې مقالې غوښـــتنه کوي. دلته یوازې پر څو اساسي ټکو بسنه کوم:

**محترمو او قدرمنو ورونو!**

د دیني نصوصو فهم د شخصي ذوق او ذهني تمایلاتو لوبه نه ده؛ دا د وحې د امانت مسئله ده. حدیث یوازې د څو کلمو په رااېستلو نه فهمېږي؛ سیاق، سباق، د وینا مقام، مخاطب، سبب، د حدیث بشپړ متن او د رسول الله ﷺ مقصد ټول باید په پام کې ونیول شي.

تر ټولو ســـتره علمي تېروتنه دا ده چې یو ځانګړی حکم، ځانګړی حالت او ځانګړی سیاق له خپل ځایه راوباسو، هغه په مطلقه قاعده بدل کړو، بیا یې د ښځې د سپکاوي لپاره وکاروو؛ او په پای کې خپل شخصي تعصب ته د رسول الله ﷺ د مبارک نوم جامه ور واغوندو.

د ،،ناقص العقل،، تعبیر هم د ،،بېعقله،، ،،احمقه،، او ،،کمفهمه،، **په معنا اړول علمي خیانت دی.** د یوه شـــرعي حکم بیانول د ښـــځې د ذات د تحقیر اجازه نه ده. څوک چې د حدیث له یوې جملې څخه د ښځې د فکري او انساني

ketabton.com - The Digital Library

کمارزښـــتی فلســـفه جوړوي، باید لومړی وښـــيي چې دا نتیجه یې د قرآن له عمومي اصولو، د رسول الله ﷺ له سنت او د شریعت له عدالت او کرامت سره څنګه جمع کړې ده؟

که څوک د حدیثو د علومو، دلالت، عام او خاص، مطلق او مقید، د روایتونو د جمع او د نصوصو د تطبیق له اصولو سره بلد نه وي، لږ تر لږه دې د رسول الله ﷺ له ادرسه د قطعي احکامو په صادرولو کې دومره بد جرئت نه کوي.

ځکه ،، رسول الله ﷺ فرمايلي،، یوه عادي جمله نه ده؛ دا د دین نسبت دی.

تر دې هم خطرناک کار دا دی چې انســـان لومړی خپله عقده او نتیجه وټاکي، بیا له نص څخه یوازې هغه ټوټه راوباســـي چې د ده د موقف لپاره کار وکړي. دا د نص تفسیر نه دی؛ دا د نص استخدام دی.

او کله چې د رســـول الله ﷺ کلام د مور، خور، لور او مېرمنې د تحقیر لپاره اســتعمالیږي، باید له ځانه وپوښــتو: موږ رښــتیا د رسـول الله ﷺ مراد لټوو، که خپل تعصب ته د هغه له کلامه سند جوړوو؟

**نص زموږ د سلیقې تابع نه دی؛ موږ د نص د امانتدار فهم تابع یو.**

د دیني متن تر ټولو خطرناک تحریف تل دا نه وي چې څوک یې رد کړي؛ تر ټولو خطرنـاک تحریف دا هم وي چې څوک یې په ژبـه ومني، خو معنـا یې د خپلې عقدې، تعصب او مصلحت مطابق بدله کړي.

د رســـول الله ﷺ کلام د خپلې عقدې د توجیه وســـیله مه ګرځوي که د نص امانتداري نه شـــو کولی، لږ تر لږه دې خپل تعصـــب د دین په نوم نه وړاندې کوي..

♧♧♧♧

نن ۲۹ د اګست د سید قطب رحمه د اعدام او شهادت شپیتمه کلیزه ده کله چې د نن څخه شپیته کاله وړاندې په همدې ورځ د سید قطب رحمه‌الله د اعدام شېبې راورسېدې او هغه یې د دار تختې پر

ketabton.com - The Digital Library

لوري په داسې حال کې روان کړ چې لاسونه يې په ځنځيرونو تړلي وو، د مصر د قانون له مخې په دې وخت کې بايد يو ديني عالم محکوم ته د شهادت د کلمې د ويلو تلقين وکړي.

همداسې وشول؛ ملا ورمخکې شو او سيد قطب رحمه‌الله ته يې د کلمې د ويلو تلقين وکړ.

سيد قطب رحمه‌الله په هغه حساسه شېبه کې داسې ځواب ورکړ چې د خلفای راشدينو له دورې وروسته يې تر قيامته د يوه تريخ حقيقت او واقعيت انځور وړاندې کړ.

هغه خپل په ځنځير تړلي لاسونه پورته کړل، ملا يې په خوله وواهه او ورته يې وويل:

**دا څرنګه کلمه ده چې زه پرې دار ته خېژم، او ته پرې ځان ته روزي پيدا کوې؟!**

قدرمنو ورونو!

دا خبره دومره درنه او له عبرته ډکه ده چې د امت تاريخي واقعيت ناترسه انځور روښانه کوي.

زموږ په اسلامي تاريخ، او آن زموږ د خپل وطن په تاريخ کې همدا تريخ حقيقت دی؛ له ځينو خلکو د کلمې دفاع په خاطر هديرې ډکېږي، خو ځينې نور بيا له همدې کلمې او شعار څخه د دنيا د ګټې، شهرت او مقام تجارت جوړوي.

ketabton.com - The Digital Library

چا پرې ماڼۍ او کاروبارونه جوړ کړل، چا منصبونه تر لاسه کړل، چا په داخل او خارج کې کورونه واخیستل، او چا د دین په نوم د خپل شخصي ژوند د هوسونو لپاره هره دروازه پرانیسته.

او بل لورې ته چا پرې خپل بچي یتیمان کړل او خپلې ککرې خاورې کړې او خپل بدنونه ټوټه ټوټه کړل

**ستره تراژيدي دا ده چې د دين په نوم د قربانۍ بار يو څوک وړي، او د هماغه دين په نوم د دنيا ګټې بل څوک ټولوي.**

الله تعالی دې زموږ او ستاسو خاتمه په ایمان، اخلاص او حقه لار وکړي، او له دې څخه مو وساتي چې د دین په نوم د دنیا تجارت وکړو.

آمین یا رب العالمین.

♧♧♧♧♧

ځيني کسان ادعا کوي چې د الله تعالی ذکر، تسبيح، تهليل او استغفار د يوه شيخ له اجازې پرته نه شي کېدای، او که څوک د شيخ له اجازې پرته ذکر وکړي، نو ګواکې ذکر يې ناقص، بې‌برکته يا غير مشروع دی.

دا ادعا ډېره لويه ده؛ ځکه په حقيقت کې د الله تعالی له يوه عام او مطلق حکم سره يو نوی شرط تړل دي. په شريعت کې اصل دا دی چې هره دعوه دليل غواړي، او هر هغه قيد چې د الله او رسول ﷺ په حکم کې ورزياتېږي، بايد د قرآن، سنت يا اجماع له قطعي دليل څخه ثابت وي. که دليل نه وي، نو هېڅ انسان، که هر څومره لوی عالم، شيخ يا پير هم وي، د الله په دين کې د نوي شرط د جوړولو حق نه لري.

الله تعالی فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ۝ وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا

ketabton.com - The Digital Library

ای مؤمنانو! الله ډېر یادوئ او سهار او ماښام يې پاکي بيان کړئ.

همدارنګه فرمايي:

فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ

تاسو ما ياد کړئ، زه به تاسو ياد کړم.

وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا

د دغو آيتونو ژبه عامه او مطلقه ده. الله تعالی ټول مؤمنان د خپل ذکر کولو ته رابولي. نه يې د کوم شيخ اجازه شرط ګرځولې، نه بيعت، نه سلسله او نه هم د کوم ځانګړي شخص تصديق.

د اصول الفقه له متفقٌ عليه قواعدو څخه يو دا دی:

الأصل بقاء المطلق على إطلاقه، ولا يجوز تقييده إلا بدليل صحيح.

اصل دا دی چې مطلق حکم پر خپل اطلاق پاتې کېږي، او يوازې په صحيح شرعي دليل مقيدېدای شي.

همدارنګه: الأصل في العبادات التوقيف..

په عبادتونو کې اصل دا دی چې هر شرط، هر کيفيت او هره طريقه بايد د وحې له لارې ثابته وي، نه د اشخاصو د رأيې او تجربې له لارې.

رسول الله ﷺ وفرمايل:

«سبق المفردون.» قالوا: وما المفردون يا رسول الله؟ قال: الذاكرون الله كثيرًا والذاكرات.

او فرمايل:

مثل الذي يذكر ربه والذي لا يذكر ربه مثل الحي والميت.

او فرمايل:

ألا أنبئكم بخير أعمالكم، وأزكاها عند مليككم... ذكر الله

ketabton.com - The Digital Library

د دغو ټولو احاديثو پيغام يو دی: د الله ذکر د مؤمن تر ټولو ستر عبادتونو څخه دی. خو په يوه صحيح حديث کې هم نه دي راغلي چې رسول الله ﷺ د ذکر لپاره د کوم شيخ اجازه شرط ګرځولې وي.

رسول الله ﷺ په خپل ژوند کې زرګونه صحابه وروزل. هغوی به شپه او ورځ د الله ذکر کاوه، قرآن به يې تلاوت کاوه، استغفار، تسبيح، تهليل او تکبير به يې وايه؛ خو هېڅ صحيح روايت نه شته چې رسول الله ﷺ دې فرمايلي وي: تر هغه چې زما يا بل چا اجازه نه وي اخيستې، ذکر مه کوئ.

همدارنګه د ابوبکر صديق، عمر فاروق، عثمان ذوالنورين، علي المرتضی، عبدالله بن مسعود، عبدالله بن عباس، عبدالله بن عمر، عبدالله بن زبير رضي الله عنهم، او له هغوی وروسته د تابعينو، تبع تابعينو، د امت د څلورو امامانو، د حديث د ائمو او د سلف صالحينو له عمل څخه هم دا شرط نه ثابتيږي.

او بل لورې ته دغه ډول شروط کېښودل خطرناک دي ځکه الله تعالی فرمايي:

أَمْ لَهُمْ شُرَكَاءُ شَرَعُوا لَهُمْ مِنَ الدِّينِ مَا لَمْ يَأْذَنْ بِهِ اللَّهُ

ايا دوی داسې شريکان لري چې په دين کې يې ورته هغه څه مشروع کړي چې الله اجازه نه ده ورکړې؟

او رسول الله ﷺ وفرمايل:

من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد.

چا چې زموږ په دې دين کې داسې څه را داخل کړل چې له دين څخه نه وي، هغه مردود دي.

امام شاطبي رحمه الله فرمايي:

الأصل في العبادات ألا يشرع منها إلا ما شرعه الله ورسوله.

په عبادتونو کې اصل دا دی چې يوازې هغه څه مشروع دي چې الله تعالی او رسول ﷺ مشروع کړي وي.

او شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله وايي:

ketabton.com - The Digital Library

ليس لأحد أن يجعل شيئًا واجبًا أو مستحبًا إلا بدليل شرعي.

هیڅوک حق نه لري کوم عمل واجب یا مستحب وګرځوي، مګر په شرعي دلیل.

هو، که یو شیخ یا عالم د قرآن او سنت مطابق د اذکارو الفاظ، د هغوی صحیح تلفظ، آداب، اخلاص، دوام او د نفس اصلاح ورزده کوي، دا یو مبارک تربیوي کار دی او د علماوو له مهمو دندو څخه دی. خو ښوونه او روزنه یو شی دی، او د عبادت لپاره د شرعي شرط جوړول بل شی دی. دا دواړه باید سره ګډ نه شي.

نو که څوک وایي: د شیخ له اجازې پرته ذکر نه کیږي. نو باید د دې دعوې لپاره واضح شرعي دلیل وړاندې کړي.

کوم آیت؟

کوم صحیح حدیث؟

د کوم صحابي فتوا؟

د کوم تابعی عمل؟

د کوم امام د اجماع نقل؟

که د دغو پوښتنو لپاره معتبر شرعي دلیل نه وي، نو دا دعوه د دلیل پر بنسټ نه، بلکې د تقلید او عرف پر بنسټ ولاړه ده.

**الله تعالی د خپل ذکر دروازه د ټولو مؤمنانو پر مخ پرانیستې ده. هغه خپلو بندګانو ته نه دي ویلي چې لومړی د فلاني شیخ اجازه واخلئ، بیا زما ذکر وکړئ؛ بلکې مستقیم یې فرمایلي دي:**

**فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ**

تاسو ما یاد کړئ، زه به تاسو یاد کړم.

له همدې امله، د الله تعالی د عام او مطلق حکم محدودول، د هغه لپاره داسې شرط جوړول چې نه قرآن بیان کړی، نه سنت، نه صحابه، نه تابعین او نه د

ketabton.com - The Digital Library

امت اجماع، د شرعي اصولو له مخې د قوي او صریح دلیل غوښتنه کوي. په دین کې دلیل اصل دی، اشخاص نه؛ وحی حاکمه ده، نه عرف؛ او د الله تعالی حکم تر هرې طریقې او سلسلې لوړ دی.

♧♧♧♧♧

اتفاق که د الله تعالی قدرت او حکمت؟

لومړی، یو ستر انفجار وشو؛

بیا کائنات پراخېدل پیل کړل؛

بیا مادي رامنځته شوې؛

بیا ګردونه، ګازونه او ستوریزې وریځې جوړې شوې؛

بیا ستوري او کهکشانونه پیدا شول؛

بیا د جاذبې نظام خپل اغېز څرګند کړ؛

بیا سیارې جوړې شوې؛

بیا ځمکه په داسې مدار کې وګرځېده چې د ژوند لپاره مناسبه وه؛

بیا فضا رامنځته شوه؛

بیا په ځمکه اوبه او د ژوند لپاره اړین شرایط برابر شول؛

بیا ژوند راپیدا شو؛

بیا نباتات او بېلابېل ژوندي موجودات پیدا شول؛

بیا وچه او سمندرونه خپل منظم نظام ته ورسېدل؛

بیا په ځمکه د ژوند تسلسل پیل شو؛

بیا نر او ښځه پیدا شول؛

بیا هر مخلوق ته د نسل د بقا لپاره ځانګړي غړي ورکړل شول؛

بیا هر نوع خپل ځانګړی نظام او ځانګړنې وساتلې؛

ketabton.com - The Digital Library

بیا د نسل دوام پیل شو؛

بیا انسانانو کورنۍ، کلي او ښارونه جوړ کړل...

او بیا هم ځینې خلک وايي: "دا ټول یوازې اتفاق و!"

افسوس! انسان د خپل رب د قدرت، حکمت او تدبیر دومره څرګندې نښې ویني، خو بیا هم سترګې پرې پټوي.

دا هر څه د الله تعالی د قدرت، علم، تدبیر او حکمت څرګندې نښې دي، نه د بې هدفه اتفاق پایله.

الله تعالی فرمايي:

وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ

بېشکه موږ انسان په تر ټولو غوره او ښایسته جوړښت پیدا کړی دی.

أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ

ایا تاسو ګومان کوئ چې موږ تاسې بې هدفه پیدا کړي یاست او زموږ لوري ته به نه راګرځول کیږئ؟

أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا

ایا کافران نه ویني چې اسمانونه او ځمکه سره یو ځای وو، نو موږ سره جلا کړل؟

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ

بېشکه د اسمانونو او ځمکې په پیدایښت او د شپې او ورځې په بدلېدو کې د عقل خاوندانو لپاره سترې نښې دي.

دا کائنات د الله تعالی د عظیم قدرت، دقیق تدبیر او بې پایه حکمت شاهدي ورکوي. د نظم، قانون او هدف دا ستر نظام د تصادف نه، بلکې د حکیم او قادر خالق د ارادې او پیدا کولو څرګند دلیل دی.

سبحان الله وبحمده، سبحان الله العظیم.

ketabton.com - The Digital Library

♧♧♧♧♧

کله چې مجوسي ابو لؤلؤ د سحر د لمانځه د امامت پر مهال حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه په څو ګوزارونو سخت ټپي کړ، طبيب راوغوښتل شو. هغه حضرت عمر رضي الله عنه ته شيدې ورکړې، خو شيدې د زخم له لارې راووتې. طبيب وويل:

"اې اميرالمؤمنين! وصيت وکړئ، ځکه ښکاري چې نور به ژوندی پاتې نه شئ."

حضرت عمر رضي الله عنه، چې د مرګ په بستر پروت و، خپل زوی عبدالله رضي الله عنه ته وفرمايل:

"ولاړ شه، حذيفه بن اليمان راوغواړه."

حضرت حذيفه بن اليمان رضي الله عنه هغه ستر صحابي و چې رسول الله ﷺ د منافقانو نومونه يوازې هغه ته ښودلي وو.

کله چې حضرت حذيفه راغی، ويې ليدل چې د مسلمانانو خليفه په خاورو پروت دی او د ټپونو وينې يې روانې دي.

حضرت عمر رضي الله عنه په کمزوري غږ ورته وفرمايل:

"الله تعالی شاهد نيسم، ووايه! آيا رسول الله ﷺ زما نوم هم د منافقانو په ډله کې ياد کړی و؟"

حضرت حذيفه چوپ شو، سترګې يې له اوښکو ډکې شوې او ويې ويل:

"اې اميرالمؤمنين! هيله ده ما د رسول الله ﷺ راز افشا کولو ته مه اړ باسئ."

حضرت عمر رضي الله عنه بيا وفرمايل:

"په الله تعالی دې قسم وي، راته ووايه، آيا زما نوم په هغوی کې شته که نه؟"

حضرت حذيفه په ژړا شو او ويې ويل:

"ستا لپاره يې وايم، خو له تا پرته به دا خبره هيچا ته ونه کړم. په الله قسم، ستا نوم د منافقانو په منځ کې نشته."

ketabton.com - The Digital Library

د دې خبرې په اورېدو حضرت عمر رضي الله عنه لږ ډاډه شو، بيا يې خپل زوی ته وفرمايل:

"يوه هيله مې لا پاتې ده."

عبدالله رضي الله عنه په ژړغوني غږ وپوښتل:

"هغه کومه هيله ده، پلاره؟"

حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل:

"د مؤمنانو مور حضرت عايشې رضي الله عنها ته ولاړ شه، خو ځان د اميرالمؤمنين د زوی په توګه مه ښکاره کوه. يوازې ووايه: عمر هيله لري چې د رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر رضي الله عنه تر څنګ د دفن اجازه ورکړل شي."

عبدالله رضي الله عنه حضرت عايشې رضي الله عنها ته ورغی او اجازه يې وغوښته.

حضرت عايشې رضي الله عنها وفرمايل:

"ما دا ځای د ځان لپاره غوره کړی و، خو نن يې عمر ته ورکوم."

عبدالله رضي الله عنه په خوښۍ راستون شو او دا زېری يې خپل پلار ته ورساوه.

وروسته يې د حضرت عمر رضي الله عنه سر پر خپل زنګون کېښود، خو حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل:

"زما سر پر ځمکه کېږده، ځکه عمر به تباه وي که الله تعالی پرې رحم ونه کړي."

بيا يې خپل زوی ته وروستی وصيت وکړ:

"کله چې زما د جنازې لمونځ ادا شي، پام کوه چې حذيفه بن اليمان زما د جنازې په لمانځه کې ګډون کوي که نه؛ ځکه وېره لرم چې ښايي زما د خاطر يې حقيقت نه وي ويلی. که هغه ګډون وکړ، نو زما جنازه د حضرت عايشې رضي الله عنها کور ته يوسه او بيا هم ووايه: د عمر زوی د دفن اجازه غواړي، نه د اميرالمؤمنين

ketabton.com - The Digital Library

زوی. که اجازه یې ورکړه، هلته مې خاورو ته وسپارئ، او که اجازه یې ورنه کړه، نو د عامو مسلمانانو په هدیره کې مې دفن کړئ."

له څو شیبو وروسته حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه د خپل رب حضور ته ورستون شو. د هغه د جنازې لمونځ په مسجد نبوي کې ادا شو، حضرت حذیفه بن یمان په جنازه کې ګډون وکړ..

او د حضرت عایشې رضي الله عنها له اجازې وروسته د رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

قدرمنو او محترمو ورونو:

الله تعالی دې پر حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه بې شمېره رحمتونه وکړي. هغه ستر شخصیت و چې د عدالت، تقوا او حق‌پالنې بېساری مثال یې نړۍ ته پرېښود. رسول الله ﷺ ورته د خپل ژوند په مهال د جنت زېری ورکړی و، خو بیا هم د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې د الله تعالی له حساب او عدالت څخه په وېره کې و او هېڅکله یې خپل عمل د نجات ضمانت ونه ګاڼه.

**همدا د صالحانو لار ده؛** هر څومره چې د انسان ایمان، علم او عمل زیاتېږي، هماغومره یې تواضع، عاجزي او د الله تعالی وېره هم زیاتېږي. برعکس، کله چې انسان ځان له نورو مسلمانانو غوره وګڼي، د خپلو اعمالو ستاینه او یادونې کوي ، د نورو مسلمانانو سپکاوی او تحقیر کوي او د خپلو اعمالو په پلمه دنیوي مقامونه منصبونه او بیت المال خپل حق وبولي، نو دا د نفس د غرور نښه ده، نه د تقوا.

**هېڅوک د خپلې پایلې ضمانت نه لري. حقیقي بریا په نیکه خاتمه ده، نه په شهرتونو، منصبونو او د خلکو په ظاهري ستاینه.**

اللهم أحسن خاتمتنا، وثبتنا عند الموت، واجعل خير أعمالنا خواتيمها، وخير أيامنا يوم نلقاك.

اللهم اهدنا ثم اهدنا ثم اهدنا، واهدِ ذرياتنا، هدايةً لا نشقى بعدها أبداً، يا رب العالمين. 🤲 🌿

ketabton.com - The Digital Library

♣♣♣♣♣

✍ امام بيهقي رحمه الله په شعب الإيمان کې (۱۷۶۳) يو روايت ذکر کړی چې مفهوم يې داسې دی:

«ژر به پر خلکو داسې زمانه راشي چې له اسلام څخه به يوازې نوم پاتې وي، له قرآن څخه به يوازې الفاظ پاتې وي، جوماتونه به آباد وي، خو د هدايت له رڼا به تش وي، او له همدغو خلکو څخه به فتنې راپورته کيږي او بېرته به همدوی ته ورګرځي.»

د دې روايت د سند په اړه د محدثينو ترمنځ بحث شته، خو مفهوم يې د امت د زوال د يوې دورې انځور وړاندې کوي.

عالمان وايي، دا روايت د امت د هغې زمانې يادونه کوي چې مسلمانان به د خپلو ديني او اخلاقي ارزښتونو له روح څخه لرې شوي وي. په داسې وخت کې به ځينې عالمان ناسمه فتوا، بې‌ځايه ويناوې او افراطي دريځونه خپروي. لومړی به عام خلک د دې فساد ښکار شي، او وروسته به خپله هماغه کسان د خپلې جوړې کړې فتنې قرباني شي. د دين د توازن، حکمت او معنويت پر ځای به تعصب، غلو او افراط ته وده ورکړل شي، او پايله به يې دا وي چې امت به د يو بل پر وړاندې په صفونو وويشل شي.

له همدې امله، امام عبد الحميد ابن باديس رحمه الله فرمايي: «مسلمانان تر هغه اصلاح کېدای نه شي، څو چې عالمان يې اصلاح نه شي.»

د دين غلبه يوازې دا معنا نه لري چې د يوې ټولنې ټول خلک دې مسلمانان وي، بلکې حقيقي غلبه هغه ده چې د ټولنې نظام د الهي عدالت، انصاف، امانت او مطلوب مساواتو پر بنسټ ولاړ وي.

څه موده وړاندې د جارج واشنګټن پوهنتون مسلمان استاد، ډاکټر حسين عسکري، د اسلامي ارزښتونو د عملي کېدو په اړه يوه څېړنه وړاندې کړه. د دې څېړنې موخه دا وه چې کوم هېوادونه په خپلو قوانينو، ادارو او ټولنيز ژوند کې د اسلام له اصولو سره ډېر نږدې عمل کوي.

ketabton.com - The Digital Library

د څېړنې له مخې، د اسلامي ارزښتونو د عملي کېدو په برخه کې نیوزیلنډ، لوګزامبورګ، ایرلنډ، آیسلنډ، فنلنډ، ډنمارک او کاناډا په لومړیو کتارونو کې راغلي، په داسې حال کې چې د اسلامي هېوادونو له ډلې مالیزیا په ۳۸م، کویټ په ۴۸م، بحرین په ۶۴م او سعودي عربستان په ۱۳۱م ځای کې راغلی و.

دا څېړنه دا هم څرګندوي چې ډېر مسلمانان د لمانځه، روژې، حج، قرآن، حدیث، حجاب، ږیرې او ظاهري شعائرو په ساتنه کې حساس دي، خو د عدالت، امانت، قانون، معاملاتو، صداقت او ټولنیز مسؤلیت په برخه کې د اسلام له لارښوونو لرې پاتې کېږي.

مسلمانان د نړۍ د نورو مذهبونو د پیروانو په پرتله تر ټولو ډېر وعظونه او خطبې اوري، خو بیا هم زموږ ډېری هېوادونه د عدالت، قانون، پرمختګ او ښې حکومتولۍ له پلوه د نړۍ له مخکښو هېوادونو وروسته دي.

سید جمال الدین افغاني ته منسوبه مشهوره وینا ده: «غرب ته ولاړم، اسلام مې ولید خو مسلمانان نه وو؛ شرق ته راغلم، مسلمانان مې ولیدل خو اسلام نه و.»

که له ځانه وپوښتو چې ولې د ډېرو غیرمسلمو هېوادونو تولیدات او برانډونه په نړۍ کې مشهور دي، یو مهم دلیل یې کیفیت، امانتداري او د کار معیارونه دي.

اسلام یوازې لمونځ، روژه او حج نه دي؛ اسلام د ټول ژوند لپاره بشپړ نظام دی.

رسول الله ﷺ د «مفلس» تعریف داسې کړی چې مفهوم یې دا دی: یو څوک به د قیامت په ورځ له ډېرو لمونځونو، روژو او نورو عبادتونو سره راشي، خو پر خلکو به یې ظلم کړی وي، د چا مال به یې خوړلی وي، چاته به یې ښکنځلې کړې وي، خیانت، دوکه، احتکار او نور ظلمونه به یې کړي وي. بیا به د هغه نېکۍ مظلومانو ته ورکړل شي، او که نېکۍ یې خلاصې شوې، د هغوی ګناهونه به پرې واچول شي، او په پای کې به دوزخ ته واچول شي.

له بده مرغه، زموږ په ټولنه کې هم د دې ډول چلند بېلګې کمې نه دي. په یوه کوچنۍ سیمه کې لسګونه جوماتونه، مدرسې او ښوونیز مرکزونه لیدل کېږي، خو بیا هم داسې انسان کم پیدا کېږي چې خلک پرې په هره برخه کې بشپړ اعتماد وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

**برنارډ شا ته يوه مشهوره جمله منسوبه ده: «اسلام غوره دين دی، خو مسلمانان يې غوره استازي نه دي.»**

بې له شکه، د امت په اصلاح او فساد کې د علماوو رول ډېر مهم دی. عالمان د امت د مالګې حيثيت لري؛ که مالګه خپله خرابه شي، د خوړو خوند هم له منځه ځي.

مولانا ابوالکلام آزاد رحمه الله ليکي: «د مذهب ځينو دوکاندارانو جهل، تقليد، تعصب او هواپرستي ته د دين نوم ورکړی، او ځينو دروغجنو روښانفکرانو الحاد، بېبندوباري او فکري ګډوډۍ ته د روښانتيا او پرمختګ نوم ورکړی.»

او بيا يې د فارسي دغه شعر راوړي:

هم کعبه و هم بتکده سنگِ رهِ ما بود

رفتيم و صنم بر سرِ محراب شکستيم

♣♣♣♣♣

ځيني خلک په ډېرې بېپروايۍ او بېشرمۍ وايي: "مور خو نه دي اورېدلي چې څوک دې د لوږې مړ شوی وي."

خو که لوږه د مرګ لامل نه وي، نو بيا ولې هر کال زرګونه انسانان د يوې مړۍ حلالې ډوډۍ لپاره خپل کور، وطن، مور، پلار، اولادونه او هر څه شاته پرېږدي؟

ولې د نيمروز د سوځنده دښتو په تودو شګو کې د دوی وروستۍ سلګۍ پورته کېږي؟

ولې د ايران او پاکستان پر سرحدونو د مرميو، شکنجو، سپکاوي او بېرحمۍ ښکار کېږي؟

ولې د ترکيې او يونان پر پولو د يخ، واورو، لوږې او سرحدي خنډونو قرباني کېږي؟

ولې د سمندرونو په تل کې د کبانو خوراک شي، ځکه چې غوښتل يې خپلې کورنۍ ته يوه حلاله مړۍ ډوډۍ پيدا کړي؟

ketabton.com - The Digital Library

ایا دا ټول د لوږې قربانیان او مرګونه نه دي؟

که په کور کې پاتې شي، ورته ویل کېږي: "کار نه کوي، تنبل دي او په تیاره پسې ګرځي."

او که د رزق په لټه سفر وکړي، دښتې، سرحدونه، سمندرونه او مرمۍ یې ژوند ترې واخلي؛ بیا وایي: "دا خو د لوږې مرګ نه و!"

لوږه تل انسان د خپل کور په کوټه کې نه وژني؛ ډېر وخت یې د ژوند د موندلو په سفر کې وژني. لوږه یوازې د نس تشوالی نه دی؛ لوږه هغه ځواک دی چې انسان له خپلې خاورې بېلوي، د پردیو پر لارو یې سرګردانه کوي، د قاچاقبرو رحم ته یې سپاري، د سرحدونو مرمیو ته یې دروي او د سمندرونو څپو ته یې تسلیموي.

هغه څوک چې د لوږې مرګ یوازې په دې معنا اخلي چې ګواکې یو انسان دې په خپل کور کې د تشې نس له امله ساه ورکړي، د فقر له حقیقت څخه ناخبره دي. د فقر تر ټولو دردناکه بڼه دا ده چې انسان د ژوندي پاتې کېدو لپاره داسې خطرناک سفر ته اړ شي چې د مرګ احتمال یې د ژوند له هیلې ډېر وي.

د فقر له درد څخه سترګې پټول، د مظلوم انسان د مجبوریت انکار کول او د حقیقت پټولو لپاره چاپلوسي کول، نه واقعیت بدلوي او نه د مظلوم زخم رغوي. د چاپلوسۍ او حقیقت څخه انکار هم یو حد وي؛ لږ د الله تعالی نه حیا پکار ده او لږ د خپلو بېوسه هېوادوالو پر حال رحم وکړئ.

حقیقت په شعارونو او تبلیغاتو نه پټېږي؛ حقیقت د خلکو په خالي دسترخوانونو، د ماشومانو په وږو سترګو، د میندو په اوښکو، او د سرحدونو، دښتو او سمندرونو پر غاړو پرتو بېنومه جسدونو کې لیکل شوی دی.

ځکه کله چې وطن د خپلو خلکو لپاره د عزت، کار او حلال رزق زمینه له لاسه ورکړي، نو لوږه یوازې معدې نه تشوي؛ بلکې کورونه تشوي، وطنونه تشوي، او هدیرې ډکوي.

ketabton.com - The Digital Library

اتریشۍ اداکاره ماري (ماریان) کوخ هغې د «قندیل أم هاشم» په فلم کې د شکري سرحان د محبوبې رول ولوباوه. د هماغه وخت په شاوخوا کې هغه په جرمني کې د طب په زده کړو بوخته وه.

ماري په داسې کورنۍ کې زیږېدلې وه چې ازاد او بېپروایه ژوند یې درلود. د کورنۍ د ناسمو شرایطو له امله یې د ځینو ورونو او خویندو ژوند هم خراب شوی و، خو ماري هڅه وکړه چې ځان له دې چاپېریاله وساتي او په حلاله او عزتمنده لاره ژوند وکړي. هغې د خپل ژوند د لګښت لپاره په یوه کافه کې د کارګرې په توګه کار پیل کړ.

یوه ورځ یو فلمي پروډیوسر هغه ولیده او په فلمونو کې یې د کوچنیو رولونو وړاندیز ورته وکړ. په همدې ډول هغې په جرمني او اتریش کې په ځینو فلمونو کې د اضافي لوبغاړې په توګه کار پیل کړ.

کله چې د «قندیل أم هاشم» د فلم د ثبت ډله جرمني ته ولاړه، هلته یې یوې جرمنۍ اداکارې ته اړتیا لرله چې په لږ معاش کار وکړي. ماري آډیشن ورکړ او د همدې رول لپاره غوره شوه.

د فلم د کیسې له اورېدو وروسته، هغې د سیدې زینب رضي الله عنها او اهل بیتو په اړه ډېرې پوښتنې وکړې. د فلم کارکوونکو د حضرت زینب رضي الله عنها د پاکۍ، تقوا، صبر او لوړ اخلاقو په اړه معلومات ورکړل. د روایت له مخې، ماري له دې شخصیت څخه ډېره متأثره شوه او په زړه کې یې ځانګړی سکون احساس کړ.

کله چې د فلم ثبت پای ته ورسېد، هغې پرېکړه وکړه چې خپل ژوند بدل کړي. لږې پیسې یې جمع کړې، د مصر پلازمېنې قاهرې ته یې ټکټ واخیست او مصر ته ولاړه.

هلته تر رسېدو وروسته لومړی د سیدې زینب رضي الله عنها زیارت ته ولاړه. دا چې په عربي نه پوهېده، د خلکو مرسته یې وغوښته، تر دې چې د مصر مشهور اداکار عبدالوارث عسر ته ورسېده، چې هغه هم په همدې فلم کې برخه لرله.

ketabton.com - The Digital Library

عبدالوارث عسر هغې ته ښه راغلاست ووایه، او ماري د اسلام د منلو خپله هیله ثرګنده کړه. هغه یې دارالافتاء ته بوتله او د روایت له مخې، د مفتي احمد عبدالعال بریدي په لاس یې اسلام قبول کړ. بیا د مشورې له مخې د هغې نوم «زینب الحسین علي» کېښودل شو.

له اسلام راوړلو وروسته یې د قرآن کریم جرمني ژباړه لوستل پیل کړل. ویل کیږي چې د تلاوت او ژباړې د لوست پر مهال به ډېره ژړل. وروسته یې د حج کولو هیله څرګنده کړه. عبدالوارث عسر د هغې د حج ترتیبات برابر کړل او د محمد توفیق او د هغه د مېرمنې په ملتیا حج ته ولاړه.

د محمد توفیق مېرمن روایت کوي چې ماري به هېڅکله ستړې کېده نه، بلکې د حج په ټولو مناسکو کې به تل له نورو مخکې روانه وه.

د حج له ادا کولو وروسته مدینې منورې ته ولاړه. ، کله چې د رسول الله ﷺ روضې مبارکې ته ورسېده، په څېره یې ځانګړی نور څرګند شو، قرآن کریم یې خپلې سینې ته ونیو، په لوړ غږ یې د شهادت کلمه وویله او هماغلته یې خپل روح الله تعالی ته وسپاره.

هغه په جنت البقیع کې خاورو ته وسپارل شوه.

**محترمو او قدرمنو ورونو!**

**انسان باید هېڅکله په خپلو تېرو اعمالو مغرور نه شي چې ما فلاني عمل کړي، او نه د نورو ته په پخوانیو اعمالو سپک وګوري..**

بلکې تل له الله تعالی څخه د بالیمانه خاتمې دعا وغواړي.

اللهم اختم لنا بالحسنى، واجعل عاقبتنا على الإيمان. آمین یا رب العالمین.

♧♧♧♧♧

کله چې حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله د ژوند وروستیو شېبو ته ورسېد، ویې فرمایل:

"ما یوازې پرېږدئ."

ketabton.com - The Digital Library

نو مسلمه او فاطمه د خونې له دروازې بهر کښېناستل. لږه شېبه وروسته له خونې څخه د هغه مبارک غږ واورېدل شو:

"ښه راغلاست! ښه راغلاست دغو څېرو ته! دا نه د انسانانو څېرې دي او نه د پېریانو."

وروسته یې دا آیت تلاوت کړ:

تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا ۚ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ

هغه د آخرت کور موږ یوازې د هغو کسانو لپاره ځانګړی کړی چې په ځمکه کې د لویۍ او برلاسی غوښتونکي نه وي او نه د فساد اراده ولري، او نېک انجام یوازې د متقیانو دی.

وروسته چې مسلمه او فاطمه خونې ته ننوتل، ویې لیدل چې د ژوند څراغ مړ شوی و او د حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله سپېڅلې روح د خپل رب حضور ته ورغلې وه.

**ورونو: یو شمېر چې قدرت ته ورسېږي پر ځمکه بیا دومره لویي ، کبر (علو) ته ورسېږي چې د ملتونو فریاد، چغې، حق غوښتنه او سالمه نیوکه هم ورته د ځان، نظامونو او خپلو مشرانو توهین او تخریب ښکاري..**

سرچینه: سیر أعلام النبلاء، ۱۴۱/۵.

♧♧♧♧♧

په نړۍ کې به ډېر داسې هېوادونه ونه مومئ چې مشران یې دومره په ارام ژوند کوي او ولس یې دومره په غم، سرګردانۍ او بې‌وسۍ کې شپې او ورځې سبا کوي لکه زموږ..

کله چې د خپل هېواد دننه د فقر، لوږې، بېکارۍ او ناامیدۍ انځور ته وګورو، او بیا په پردیو هېوادونو کې د خپلو مهاجرو سپکاوی، ذلت او بې‌وسۍ ووینو، نو انسان له ځانه وپوښتي: د دې ټولو قربانیو مسؤول څوک دی؟

ketabton.com - The Digital Library

ویل کیږي د استرالیا په یوه کلي کې، کله چې خلک خپل محلي مشر ټاکي، د کلي منځ کې د هغه یوه مجسمه هم جوړوي. د کاري دورې له پای وروسته که یې خلکو ته خدمت کړی وي، ګلان غاړه کې وراچوي او که یې خیانت کړی وي، په خوسا هګیو او رومیانو یې ولي لدي لپاره چې خجالت وباسي..

خو زموږ د هېواد تر ټولو ستره فاجعه دا ده چې د تېرو پنځوسو کلونو له دومره جګړو، ورانیو، بې‌کورۍ، لوږې او میلیونونو قربانیو وروسته هم، لا «بد مشر» نه لرو. هر مشر د خپلو پلویانو په محکمه کې برئ‌الذمه دی. یو یې د قوم په نوم سپېڅلی ګڼي، بل یې د ژبې، بل یې د سمت، او بل یې د ګوندي یا مذهبي تړاو له امله د هرې نیوکې او حساب څخه پورته بولي.

کله چې تعصب د عدالت ځای ونیسي، حقیقت قرباني شي. نه وجداني او ولسي محکمه پاتې کیږي او بې طرفه رسمي محکمه خو هسي هم نشته، نو ځکه اشخاص بدلیږي، خو تراژیدي او ناورین نه بدلیږي؛ حکومتونه راځي او ځي، خو د ولس برخلیک هماغسې له درد، مهاجرت، فقر او بې‌ثباتۍ سره تړلی پاتې وي.

**د تاریخ درس دا هم دي چې ملتونه یوازې د بدو مشرانو له امله نه تباه کیږي؛ ډېر ځله د هغو خلکو له امله هم زیان ویني چې د خپل تعصب لپاره په حقیقت سترګې پټوي، خپلو مشرانو تېروتنې فضیلت ګڼي، او د حساب غوښتنه ترې خیانت او بغاوت بولي.**

هغه ملتونه چې له خپلو مشرانو یوازې ړوند اطاعت کوي خو حساب ترې نه غواړي، راتلونکی به یې د تېر په څېر وي. ځکه عدالت هغه وخت ژوندی وي چې معیار اشخاص نه، بلکې اصول وي؛ او تر هغه چې اصول د اشخاصو قرباني کیږي، قرباني به همېشه ملت وي.

♧♧♧♧♧

هغه مهال چې په اروپا کې ښځو ته آن د انجیل د لمس کولو اجازه هم نه ورکول کېده، د اسلامي نړۍ د علمي تمدن په زړه، د قرطبې ښار، کې یوازې په یوه محله کې ۱۷۰ ښځې د کتابت او لیکوالۍ په کار بوختې وې.

ketabton.com - The Digital Library

استاد محمد اکرم ندوي په خپل ستر اثر «المحدِّثات» کې د نږدې ۸۰۰۰ ښځینه عالمانو یادونه کړې ده چې د حدیثو او نورو مروجو علومو په ډګرونو کې یې لوړ مقام درلود. دا اثر په څلوېښتو ټوکونو کې ترتیب شوی دی.

همدارنګه، حافظ ذهبي په «میزان الاعتدال» کې د شاوخوا ۴۰۰۰ ښځینه عالمانو ذکر کړی دی.

علامه حافظ ابن عساکر لیکي چې د ده له استادانو څخه ۸۰ ښځې وې او ده ترې علم حاصل کړی و.

امام سخاوي هم په خپل کتاب «الضوء اللامع لأهل القرن التاسع» کې د زر څخه د زیاتو ښځینه عالمانو یادونه کړې، چې د خپل وخت په مروجو علومو کې یې د غرونو په څېر علمي عظمت درلود او د خپلې زمانې د امت له مخکښو علمي شخصیتونو څخه شمېرل کېدې.

په همدې دوره کې، په اروپا کې په سلګونو زره ښځې د جادوګرۍ او بلاوو په تورونو تورنې شوې، سختې وځورول شوې او ډېرې یې ووژل شوې.

خو نن د دین په نوم د ښځو پر مخ د علم دروازې بندې شوي او حتي غوښتنه هم جرم بلل کیږي

بس چې مونږ خپل هغه ځلانده علمي تاریخ یاد ته ځو ژور درد احساسوو.

♧♧♧♧♧

کله چې امام شافعي رحمه الله د خپل استاد، امام مالک رحمه الله، څخه مروجه علوم زده کړل او د رخصتېدو وخت راغی، نو امام مالک رحمه الله ورته دا ارزښتناک نصیحتونه او وصیتونه وکړل:

۱. په کلیوالو سیمو کې د تل لپاره استوګنه مه کوه؛ ځکه هلته د علمي فرصتونو او مجالسو د کمښت له امله ستا علم ورو ورو کمزوری او محدودیږي.

۲. خپله روزي او مال په خپل زحمت وګټه، او د خلکو محتاج او بار مه ګرځه.

۳. هڅه وکړه چې په ټولنه کې خپل وقار، شخصیت او ټولنیز اعتبار وساتې، څو د خلکو په نظر دې مقام او مرتبه خوندي پاتې شي.

ketabton.com - The Digital Library

۴. د لوړ مقام او حيثيت لرونکو اشخاصو مجلسونو ته هغه وخت ورشه چې هغوی دې وپېژني او ستا له علم، مقام او شخصيت څخه خبر وي.

۵. که د کوم ستر شخصيت په مجلس کې ناست يې، نو په مناسبه فاصله کې کښېنه؛ ځکه کېدای شي تر تا هم لوړ مقام لرونکی او مخور کس راشي چې د کوربه له لوري ورته د نږدې کېناستو بلنه ورکړل شي. که ته د هغه لپاره له خپل ځايه پورته شې، دا به ستا د سپکاوي او اهانت سبب وګرځي.

سرچينه:

شرح مختصر خليل، للخَرَشي (الخِرَشي)، ج ۱، ص ۳۵.

♧♧♧♧♧

د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد باقر رحمه الله ليدنه

امام محمد باقر رحمه الله، چې د امام زين العابدين رحمه الله زوی او د امام حسين رضي الله عنه لمسی و، يوه ورځ امام ابوحنيفه رحمه الله د هغه د ليدنې لپاره مدينې منورې ته ورغی.

امام محمد باقر رحمه الله ته خبر ورکړل شو چې له عراق څخه امام ابوحنيفه رحمه الله راغلی دی. تر دې وړاندې ځينو کسانو ورته ويلي وو چې ابوحنيفه په قياس فتوا ورکوي.

کله چې دواړه سره مخامخ شول، امام محمد باقر رحمه الله امام ابوحنيفه ته وفرمايل: «ته ولې زما د نيکه ﷺ دين بدلوې او د قطعي نصوصو پر وړاندې قياس ته ترجيح ورکوې؟»

امام ابوحنيفه رحمه الله په بشپړ ادب او درناوي وويل: «مهرباني وکړئ، خپل ځای ته تشريف يوسئ او کښېنئ.»

امام محمد باقر رحمه الله پر خپل ځای کښېناست او امام ابوحنيفه رحمه الله په ډېر ادب د هغه مخې ته کښېناست.

وروسته يې وويل: «زه درې پوښتنې کوم، که اجازه وي، ځواب يې راکړئ.»

لومړۍ پوښتنه: «نارينه کمزوری دی که ښځه؟»

ketabton.com - The Digital Library

امام محمد باقر رحمه الله وفرمايل: «ښځه.»

امام ابوحنيفه رحمه الله بيا وپوښتل: «په ميراث کې د نارينه برخه څومره ده او د ښځې څومره؟»

امام محمد باقر رحمه الله وفرمايل: «د نارينه دوه برخې او د ښځې يوه برخه ده.»

امام ابوحنيفه رحمه الله وويل: «دا د رسول الله ﷺ حکم دی. که ما د هغه دين په قياس بدلولای، نو قياس خو دا غوښتنه کوله چې ښځې ته، ځکه کمزورې ده، دوه برخې ورکړل شي او نارينه ته يوه.»

بيا يې وپوښتل: «لمونځ غوره دی که روژه؟»

امام محمد باقر رحمه الله وفرمايل: «لمونځ.»

امام ابوحنيفه رحمه الله وويل: «دا هم د رسول الله ﷺ حکم دی. که ما د دين پر ځای قياس ته لومړيتوب ورکولای، نو ښځې به د حيض له پای ته رسېدو وروسته د لمانځه قضا کوله، نه د روژې؛ ځکه لمونځ تر روژې غوره عبادت دی.»

وروسته يې درېيمه پوښتنه وکړه: «د انسان بول ډېر نجس دي که نطفه؟»

امام محمد باقر رحمه الله وفرمايل: «بول.»

امام ابوحنيفه رحمه الله وويل: «که ما د رسول الله ﷺ دين په قياس بدلولای، نو ويل به مې چې له بولو غسل واجب دی او له نطفې يوازې اودس؛ ځکه بول تر نطفې ډېر نجس دي. خو معاذالله! زه هېڅکله د رسول الله ﷺ دين نه بدلوم.»

د روايت له مخې، امام محمد باقر رحمه الله له خپل ځايه پورته شو، امام ابوحنيفه رحمه الله يې په غېږ کې ونيوه، پر سر يې لاس راکش کړ او د هغه د علم، فقهې، ذکاوت او حسنِ استدلال ستاينه يې وکړه.

سرچينه: سيرت حضرت امام ابوحنيفه، علامه ډاکټر محمد عاصم اعظمي.

♧♧♧♧♧

ketabton.com - The Digital Library

په تېرو پنځوسو کلونو کې موږ د ارګ تخت ته د واکمنانو رسېدل هم ولیدل او له هماغه ارګه یې د تېښتې منظرې هم.

خلقیانو او پرچمیانو خپل نظام نه ماتېدونکی باله، مجاهدینو ګومان کاوه چې نور هېڅ سیال نه لري، د پخواني امارت او جمهوریت د زوال صحنې هم زموږ د سترګو مخې ته تېرې شوې.

دا نیمه پېړۍ د عبرت، پوهاوي او واقعبینۍ لپاره تر هر کتاب ستر درس دی. **خو له بده مرغه چې هر څوک واک ته ورسېږي، د تاریخ له حافظې بې‌برخې شي؛ ځان تلپاتې ګڼي، نقد نه زغمي او ولس ته د برده په سترګه ګوري، نه د اصلي مالک په توګه.**

واک د انسان د تلپاتې کېدو تضمین نه دی، بلکې یوه لنډمهاله امانت دی. تاریخ بیا بیا اخطار راکوي چې قدرت د هیچا شخصي میراث نه دی او چغې وهي چې څوک له عبرته سترګې پټوي، ډېر ژر پخپله د تاریخ د عبرت یوه برخه ګرځي.

♧♧♧♧♧

د هندوستان مشهور شاعر راحت اندوري وايي:

یو ځل د استبداد په زمانه کې مې په یوه مشاعره کې وویل:

**"سرکار چور ہے!"**

یعنې: حکومت غل دی.

سبا پولیسو حوزې ته وغوښتم. د پولیسو مشر راته وویل: "تا تېره شپه په مشاعره کې ویلي وو: سرکار چور ہے!"

ما ورته وویل: "هو، ما ویلي وو چې سرکار چور ہے، خو ما دا نه وو ویلي چې د هندوستان حکومت غل دی، که د پاکستان، که د امریکا او که د برېتانیا حکومت غل دی!"

د پولیسو مشر موسکی شو او ویې ویل: "ښه، ښه! اوس درته مونږ بې وقوفه هم ښکارو! آیا موږ ته معلومه نه ده چې کوم حکومت غل دی؟"

محترمو ورونو!

ketabton.com - The Digital Library

ځيني وختونه که عامه خبره هم وکړي، يو شمېر خلک يې په زور خپل لوري ته کش کوي او ګومان کوي چې همدوی مخاطب دي.

ښه به دا وي چې په هره خبره کې ځان ته مخالفت ونه لټوئ او هر عام خطاب پر ځان مه تطبيقوئ.

زموږ د ټولنې يوه لويه فکري ستونزه دا ده چې ډېر خلک د فکر او نظر ازادي نه زغمي. دوی غواړي نور خلک د دوی په شان فکر وکړي؛ څوک چې دوی خوښوي، ټول يې بايد خوښ کړي، او څوک چې دوی ترې بد وړي، نور هم بايد ترې بد يوسي. حال دا چې د حقيقتونو مصدر افراد ندي بلکې د دليل او واقعيت پر بنسټ پېژندل کېږي.

همدا ذهنيت د شخصيتپرستۍ لامل کېږي. هر جانب خپل مشران دومره لوړ ګڼي چې نيوکه پرې جرم او مخالفت ورسره خيانت بولي. پداسي حال کي چې له پيغمبرانو عليهم السلام پرته هېڅ انسان معصوم نه دی. هر انسان د ستاينې تر څنګ د نقد وړ هم دی.

د انسانانو ترمنځ د نظر اختلاف طبيعي خبره ده. هر څوک د خپلې پوهې، تجربې، معلوماتو او فکر له مخې نظر لري. لکه څنګه چې ته د خپل نظر حق لرې، همداسې نور هم دا حق لري.

خپل محبوب شخصيت ته درناوی وکړه، خو پر نورو يې مه تپه. خلک د اشخاصو نه، بلکې د الله تعالی بندګان دي او د حق، دليل او انصاف د پيروۍ مسؤليت لري. کله چې يو انسان له نقد څخه پورته وبلل شي، حقيقت تر ټولو لومړی قرباني کېږي.

پای

ketabton.com - The Digital Library

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*